# د حضرت يشوَع کِتاب

## پېژندګلو

د کِتابِ مقدس په اوله حِصه کښې د تورات د پينځو کتابونو نه پس مختلفې صحيفې شاملې دی چې د هغوئ په شروع کښې ديارلس تاريخی کتابونه دی، او د حضرت يشوَع کِتاب د دې تاريخی کتابونو اولنے کِتاب دے او د دې ټولو کتابونو الهام هم د خُدائ پاک د طرفه دے. د حضرت يشوَع په کِتاب کښې هغه وعده پوره شوه کومه چې خُدائ پاک د حضرت اِبراهيم عليه السلام سره کړې وه چې د هغۀ اولاد به په لوظ کړے شوی وطن کښې اوسيږی. حضرت يشوَع خپل قوم له په جنګ کښې د فتحې طرف ته رهنمائی وکړه او د دولسو قبيلو تر مينځه يې زمکه تقسيم کړه. په دې کِتاب کښې مونږ ګورو چې څنګه خُدائ پاک د خپلو خلقو دپاره جنګ کوی او کله چې هغوئ مضبوط وی حوصلې يې اوچتې وی او په خُدائ پاک مکمله بهروسه لری. حضرت يشوَع خلقو ته منت کوی چې د خُدائ پاک سره وفادار پاتې شئ او د هغۀ په حکمونو عمل وکړئ او خلقو د هغۀ تعليم ومنلو. بيا حضرت يشوَع وفرمائيل چې، پاتې شوه زما او زما د خاندان خبره، نو مونږ به د مالِک خُدائ خِدمت کوُو. د حفظ کولو دپاره ۱:۷ آيت ”تکړه او زړَور اوسه او په هغه ټول شريعت عمل کوه چې زما خِدمت کوونکی موسیٰ تا له درکړے دے. د هغې نه يو خوا بل خوا مۀ اوړه او بيا چې هر چرته هم تۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځي نو کامياب به يې.“

## د خُدائ پاک حضرت يشوَع له د کنعان د فتح کولو حُکم ورکول

١ ١ د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ د مرګ نه
پس مالِک خُدائ د موسیٰ مددګار د نون زوئ يشوَع سره
کلام وکړو. ٢ هغۀ وفرمائيل، ”زما خِدمت کوونکے موسیٰ
مړ دے نو اوس تۀ او اِسرائيليان تيار شئ او د اُردن د سيند
نه پورې غاړه هغه زمکې ته واوړئ چې زۀ به يې تاسو له
درکوم. ٣ چې زۀ به هر هغه ځائ تاسو له درکوم چې
چرته تاسو قدم ږدئ هم هغه شان لکه څنګه چې ما د موسیٰ
سره وعده کړې وه. ٤ ستاسو علاقه به په جنوب کښې د
بيابان نه واخله په شمال کښې د لبنان غرونو پورې، نمرخاتۀ
طرف د فرات د لوئ سيند نه واخله، نمرپرېواتۀ طرف ته د
مديترانی د سمندر پورې خوره وی چې په دې کښې به د
حِتيانو ټول مُلک شامل وی. ٥ يشوَع چې تر کومې پورې
تۀ ژوندے يې هيڅ څوک به تا له شکست نۀ شی درکولے. زۀ
به ستا هغه شان مل يم لکه څنګه چې د موسیٰ مل وم. زۀ به
کله هم تاسو سره بېوفائی ونۀ کړم او نۀ به مو يواځې
پرېږدم. ٦ تکړه او زړَور اوسه ځکه کله چې دوئ هغه
زمکه قبضه کوی نو تۀ به د هغوئ مشر يې، هغه زمکه چې ما
د دوئ پلار نيکۀ سره د هغې لوظ کړے وو. ٧ تکړه او
زړَور اوسه او په هغه ټول شريعت باندې عمل کوه چې زما
خِدمت کوونکی موسیٰ تا له درکړے دے. د هغې نه يو خوا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بل خوا مهٔ اوړه او بيا چې هر چرته هم تهٔ ځې نو کامياب به
يې. ۸ ستاسو په خولهٔ دې د شريعت دا کِتاب خبرې
هميشه وى. شپه او ورځ په دې غور کوئ. او چې په دې
کښې څهٔ ليکلى دى نو په هغې ښهٔ عمل کوئ. نو تاسو به
کامياب يئ. ۹ دا ياد ساته چې ما تا ته حُکم کړے وو چې
تکړه او زړَور اوسه. يريږه مه او چې بې‌حوصلې نهٔ شې، ځکه
چې تهٔ هر چرته هم ځې نو زهٔ مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک به
ستا مل يم.“

## د حضرت يشوَع بنى اِسرائيلو له حُکمونه ورکول

۱۰ بيا يشوَع مشرانو له حُکم ورکړو چې، ۱۱ ”په کېمپ
کښې وګرځئ او خلقو ته ووايئ چې، څهٔ خوراک تيار کړئ
ځکه چې درې ورځې پس به تاسو د اُردن سيند نه واوړئ او
هغه مُلک به قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
يې تاسو له درکوى.“ ۱۲ يشوَع د روبين، جاد او د منسى
نيمې قبيلې ته وفرمائيل، ۱۳ ”هغه څهٔ مهٔ هېروئ چې د
مالِک خُدائ خِدمت کوونکى موسىٰ تاسو ته فرمائيلى وُو
چې، ”مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له د آرام
ځائ درکړى او هغه به تاسو له دا زمکه درکړى.“ ۱۴
ستاسو ښځې، ماشومان او ځاروى به په هغه زمکه باندې
پاتې شى چې موسىٰ د اُردن سيند بلې غاړې ته تاسو له
درکړې ده. خو ستاسو تکړه لښکر به سره د وسلې د بنى
اِسرائيلو ورونړو د مدد دپاره مخکښې روان وى، ۱۵ تر دې
چې مالِک خُدائ هغوئ او تاسو له هم آرام درکړى او چې
هغوئ هغه زمکه ونيسى چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ له ورکړې ده. نو بيا به تاسو خپل هغه مُلک ته راشئ
او قبضه به يې کړئ چې د اُردن سيند نه اخوا نمرخاتهٔ طرف
ته دے، کوم چې د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ تاسو
له درکړے دے.“ ١٦ هغوئ يشوَع ته ووئيل، ”مونږ به هغه
هر څهٔ کوُو چې تهٔ يې مونږ ته حُکم کوې او هر چرته مو چې
لېږې نو مونږ به ځُو. ١٧ مونږ به ستا په خبره عمل کوُو لکه
څنګه مو چې همېشه د موسیٰ خبره منلې ده. او مالِک خُدائ
ستا خُدائ پاک دې ستا هغه شان مل وی لکه څنګه چې هغه
د موسیٰ مل وو. ١٨ او څوک هم چې ستا د حُکمونو نه
بغاوت کوی او ستا په خبرو باندې عمل نهٔ کوی نو مړ به
کړے شی. نو بس تهٔ تکړه او زړَور اوسه.“

## د حضرت يشوَع يريحو ته جاسوسان لېږل

٢ ١ بيا يشوَع د شطيم کېمپ نه دوه جاسوسان په پټه
ولېږل او دوئ ته يې حُکم ورکړو چې، ”لاړ شئ او د کنعان په
حقله معلومات حاصل کړئ او خاص کَر د يريحو ښار په
حقله.“ کله چې هغوئ هغه ښار ته ورغلل نو لاړل چې د
راحب نومې کنجرې کره شپه وکړی. ٢ د يريحو بادشاه
خبر شو چې څهٔ اِسرائيليان په هغه شپه د دې مُلک د
جاسوسئ دپاره راغلی دی. ٣ نو هغهٔ راحب ته پيغام
ولېږلو، ”ستا کور کښې چې کوم سړی دی هغه د دې مُلک
معلومات حاصلولو له راغلی دی. هغوئ رابهر کړه.“ ٤-
٦ هغې جواب ورکړو، ”څهٔ سړی زما کور ته راغلی وُو خو
ما ته پته نشته چې دوئ د کوم ځائ وُو. هغوئ د ښار
دروازې بنديدو نه لږ مخکښې د نمرپرېواتو په وخت دلته نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړل. ما ترې نه دا پته ونهٔ لګوله چې هغوئ چرته تلل، خو کهٔ
تاسو اوس په هغوئ پسې ورمنډه کړئ نو ورويه رسېږئ.“
خو راحب هغه جاسوسان چت ته خېژولی وُو او هغې چې
هلته کوم د سنډ بوټی اېښی وُو نو د هغې لاندې يې پټ کړی
وُو. ۷ د بادشاه سړی د ښار نه لاړل او بيا د ښار دروازه
بنده شوه. هغوئ د بنی اِسرائيلو جاسوسانو پسې تر هغه ځائ
پورې لاړل چرته چې سړک د اُردن سيند نه تېرېږی. ۸ د
جاسوسانو د څملاستو نه مخکښې راحب چت ته وروختله
۹ او ورته يې ووئيل، ”ما ته پته ده چې مالِک خُدائ دا
مُلک تاسو له درکړے دے او د دې مُلک هر يو کس تاسو نه
سخت يرېږی. ۱۰ مونږ د هغې نه خبر شوی يُو چې کله
تاسو د مِصر نه تلئ نو مالِک خُدائ څنګه ستاسو په وړاندې
بحرِقُلزم اوچ کړو. مونږ دا هم اورېدلی دی چې تاسو د اُردن
نمرخاتهٔ طرف ته د اموريانو دوه بادشاهان سيحون او عوج
تباه کړی دی. ۱۱ کله چې مونږ د دې نه خبر شُو نو مونږ
ډېر سخت ويرېدُو. ستاسو د يرې نه مونږ ټولو زړونه بائيللی
وُو. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک بره په آسمان کښې او
لاندې په زمکه هم خُدائ پاک دے. ۱۲ نو اوس بيا په مالِک
خُدائ قسم وکړئ چې تاسو به زما خاندان سره داسې ښهٔ
سلوک کوئ لکه څنګه چې ما تاسو سره کړے دے. او ما
سره څهٔ ضمانت کېږدئ چې زهٔ په تاسو باور وکړم. ۱۳ ما
سره وعده وکړئ چې تاسو به زما د مور پلار، ورونو خوېندو
او د هغوئ د کورَنو ژوند بچ کوئ او مونږ مهٔ پرېږدئ چې
ووژلے شُو.“ ۱۴ هغه جاسوسانو هغې ته ووئيل، ”کهٔ مونږ د
خپلې ژبې نه واوړېدو نو خُدائ پاک دې مونږ مړهٔ کړی. کهٔ
تاسو څوک خبر نهٔ کړل چې مونږ دلته څهٔ کوُو، نو مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو سره دا لوظ کوُو چې کله مالِک خُدائ مونږ له دا مُلک
راکړی نو مونږ به تاسو سره ښهٔ سلوک کوُو.“ ١٥ راحب
چې په کوم کور کښې اوسېده د هغې دېوال د ښار د دېوال
سره لګېدلے وو. نو هغې د کړکۍ نه د رسۍ په ذريعه سړی
ښکته کوز کړل. ١٦ هغې ورته ووئيل، ”هسې نه چې د
بادشاه سړی مو پېدا کړی نو د غرونو مُلک ته لاړ شئ او
هلته تر درېو ورځو پورې پټ شئ او کله چې د بادشاه سړی
راواپس شی نو د هغې نه پس تاسو په خپله مخه تلے شئ.“
١٧ هغه سړو هغې ته ووئيل، ”مونږ به په يو شرط باندې په
هغه وعده باندې قائم پاتې شُو کومه چې تا زمونږ نه اخستې
ده، ١٨ تهٔ داسې وکړه چې کله مونږ ستاسو په مُلک حمله
وکړُو نو تهٔ په کړکۍ کښې دا سره رسۍ وتړه د کومې نه چې
تهٔ مونږ کوزوې. خپل مور پلار، ورونړه او د خپل پلار ټول
خاندان کور ته دننه راوله. ١٩ خو کهٔ څوک د کور نه وځی
نو خُون به يې په خپله غاړه وی او مونږ به يې ذمه وار نهٔ يُو.
خو کهٔ په کور کښې دننه چا ته څهٔ ضرر ورسېدو نو بيا د
هغهٔ خُون زمونږ په غاړه دے او مونږ به يې ذمه وار يُو. ٢٠
خو کهٔ چرې تهٔ چا ته ووائې چې مونږ دلته څهٔ کوُو نو چې
کومه وعده تا زمونږ نه اخستې ده مونږ د هغې نه آزاد يُو.“
٢١ راحب په دې رضا شوه او هغوئ يې رُخصت کړل. کله
چې هغوئ لاړل نو هغې سره رسۍ د کړکۍ سره وتړله. ٢٢
جاسوسان غرونو ته لاړل او تر درېو ورځو پورې پټ وُو. د
بادشاه سړو هغوئ په ټوله لار باندې لټول خو پېدا يې نهٔ کړل
نو هغوئ واپس يريحو ته لاړل. ٢٣ بيا هغه دوه جاسوسان د
غرونو نه راکوز شول، د سيند نه پورې وتل او واپس يشوَع د
نون زوئ له لاړل. او چې څهٔ شوی وُو هغه هر څهٔ يې هغهٔ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل. ۲۴ او بيا هغوئ ووئيل، ”زمونږ يقين دے چې مالِک
خُدائ مونږ له هغه ټول مُلک راکړے دے او هلته ټول خلق
زمونږ نه ډير سخت يريدلی دی.“

## د بنی اِسرائيلو د اُردن سيند نه اوړيدل

۳ ۱ په بل سحر يشوَع او ټول اِسرائيليان وختی پاڅيدل.
او د شطيم کيمپ نه روان شول او اُردن ته لاړل او هلته يې
خيمې ولګولې او انتظار يې کولو چې د هغه ځائ نه پورې
غاړه واوړی. ۲ درې ورځې پس مشرانو په کيمپ کښې
چکر لګولو ۳ او خلقو ته يې حُکم ورکولو، ”کله چې تاسو
وګورئ چې اِمامان د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د لوظ
صندوق اوړی نو د خپل ځائ نه پاڅئ او هغوئ پسې ځئ.
۴ تاسو مخکښې هيڅکله دلته نۀ يئ راغلی نو هغوئ به
تاسو ته د تلو لار ښائی. د لوظ صندوق ته مۀ ورنزدې کيږئ،
دې نه تقريباً زر ګزه شاته اوسئ.“ ۵ يشوَع خلقو ته
وفرمائيل، ”ځانونه پاک کړئ ځکه چې مالِک خُدائ به سبا
ستاسو په مينځ کښې لوئ کارونه کوی.“ ۶ بيا يشوَع
اِمامانو ته وفرمائيل چې، ”د لوظ صندوق اوچت کړئ او دې
سره د خلقو نه مخکښې ځئ.“ او څنګه چې هغۀ فرمائيلی وُو
نو هغوئ هم هغه شان وکړل. ۷ مالِک خُدائ يشوَع ته
وفرمائيل، ”نن نه به زۀ د بنی اِسرائيلو په نظر کښې تا عزتمند
کړم نو داسې به دوئ پوهه شی چې زۀ ستا هغه شان مل يم
لکه څنګه چې د موسیٰ مل وم. ۸ اِمامانو ته ووايه چې د
لوظ صندوق اوړی او کله چې سيند ته ورسی نو دوئ دې د
سيند غاړې ته ورکوز شی او هلته دې ودريږی.“ ۹ بيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يشوَع خلقو ته وفرمائيل، ”دلته راشئ او چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک تاسو ته څۀ فرمائى نو هغې ته غوږ
ونيسئ. ۱۰ داسې به تاسو ته پته ولګى چې ژوندے خُدائ
پاک ستاسو په مينځ کښې دے او کله چې تاسو مخ په
وړاندې ځئ نو هغه به ضرور کنعانيان، حِتيان، حِويان،
فرزيان، جرجاسيان، اموريان او يبوسيان ستاسو د مخې نه
لرې کړى. ۱۱ ګورئ چې د ټولې دُنيا د مالِک خُدائ د لوظ
صندوق اُردن ته ستاسو په مخکښې تېرېدونکے دے. ۱۲
اوس دولس سړى چې د اِسرائيلو د هرې يوې قبيلې نه يو يو
وى غوره کړئ. ۱۳ اِمامان به د ټولې دُنيا د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق اوچتوى او کله چې هغوئ خپلې پښې په اوبو
کښې کېږدى نو د اُردن سيند بهېدل به بند شى. او کومې اوبۀ
چې ښکته راروانې وى هغه به د دېوال په شکل کښې يو ځائ
کښې ودرېږى.“ ۱۴-۱۵ دا د لَو وخت وو او سيند ښۀ په
موج کښې وو. کله چې خلقو کيمپ پرېښودو چې د اُردن نه
پورې غاړه واوړى نو اِمامان چې د لوظ صندوق يې وړو د
دوئ نه مخکښې لاړل او څنګه چې اِمامانو په سيند کښې قدم
کېښودو، ۱۶ نو د اوبو بهېدل بند شو. او لرې د آدم ښار په
خوا کښې چې د ضرتان سره نزدې دے هلته اوبۀ د دېوال په
شکل ودرېدې. او کومې اوبۀ چې لاندې د مالګې درياب ته
بهېدې هغه په مکمله توګه بند شوې او خلق د يريحو سره
نزدې پورې غاړه واوړېدل. ۱۷ اِمامان چې د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق يې اوچت کړے وو د اُردن سيند په مينځ کښې
په اوچه زمکه تر هغې پورې ولاړ وُو چې د اِسرائيلو ټول خلق
په اوچه زمکه باندې پورې غاړه اوړېدلى نۀ وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یادګار کاڼی ودرول

۴ ۱ کله چې ټول قوم د اُردن د سیند نه واوړېدو نو
مالِک خُدائ یشوَع ته وفرمائيل، ۲ ”د دولسو قبیلو نه یو یو
سړے خوښ کړه ۳ او هغوئ له حُکم ورکړه چې د اُردن د
سیند د مینځ نه دولس کاڼی راواخلی هم هغه ځائ نه چرته
چې اِمامان ولاړ وُو، دوئ ته ووایه چې دا کاڼی د ځان سره
یوسی او هلته يې کېږدی چرته به چې نن شپه خېمې لګوئ.“
۴ بیا یشوَع هغه دولس سړی راوغوښتل کوم چې هغهٔ د
هرې یوې قبیلې نه خوښ کړی وُو ۵ او ورته يې وفرمائيل،
”د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک د لوظ صندوق په وړاندې د
اُردن سیند مینځ ته لاړ شئ. په تاسو کښې هر یو کس به یو یو
کاڼے اوچتوی او د بنی اِسرائیلو د دولسو قبیلو دپاره به یو یو
کاڼے په اوږه باندې اوړئ، ۶ دا کاڼی به خلقو ته رایادوی
چې مالِک خُدائ څهٔ کړی وُو. په راتلونکی وختونو کښې چې
کله ستاسو ماشومان ستاسو نه تپوس کوی چې د دې کاڼو
مطلب څهٔ دے ۷ نو تاسو به ورته وایئ چې کله د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق هلته نه تېرېدو نو د اُردن سیند اوبهٔ
بهېدل بند شوی وُو. دا کاڼی به د همېشه دپاره د بنی اِسرائیلو
یو یادګار وی.“ ۸ سړو د یشوَع په حُکمونو عمل وکړو او
څنګه چې مالِک خُدائ یشوَع ته حُکم کړے وو هغوئ د اُردن
سیند مینځ نه دولس کاڼی واخستل د بنی اِسرائیلو د هرې
یوې قبیلې دپاره يې یو یو اوچت کړو د خېمو ځائ ته يې
یوړل او هلته يې کېښودل. ۹ یشوَع د اُردن سیند په مینځ
کښې د دولسو کاڼو یو بل یادګار ودرولو چرته چې د لوظ
صندوق وړُونکی اِمامان ولاړ وُو. هغه کاڼی تر ننه پورې هلته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. ۱۰ هغه اِمامان چا چې د لوظ صندوق اوچت کړے
وو د اُردن سیند په مینځ کښې تر هغې پورې ولاړ وُو چې
خلقو هغه هر څۀ وکړل چې مالِک خُدائ یې یشوَع ته حُکم
کړے وو، او څنګه چې موسیٰ هم د دې حُکم کړے وو. خلق
په تېزۍ د سیند نه واوړېدل. ۱۱ کله چې هغوئ ټول بلې
غاړې ته واوړېدل نو اِمامان چې د لوظ صندوق یې اوچت
کړے وو د خلقو په مخکښې پورې وتل. ۱۲ د موسیٰ د وینا
په مطابق د روبین، جاد او د منسی د نیمې قبیلې سړی د
وسلې سره د نورو خلقو نه مخکښې روان وُو او پورې وتل.
۱۳ تقریباً څلوېښت زره سړی سره د وسلې د مالِک خُدائ
په حضور کښې یریحو سره نزدې مېدان ته لاړل. ۱۴ په هغه
ورځ مالِک خُدائ یشوَع د ټولو بنی اِسرائیلو په نظر کښې
عزتمند کړو، هغوئ د هغۀ ټول عُمر هم هغه شان عزت کولو
لکه چې څنګه یې د موسیٰ کړے وو. ۱۵ بیا مالِک خُدائ
یشوَع ته وفرمائیل چې، ۱۶ ”هغه اِمامانو له حُکم ورکړه چا
چې د لوظ صندوق اوچت کړے دے چې د اُردن د سیند نه
بهر راوځی.“ ۱۷ نو یشوَع اِمامانو له حُکم ورکړو، ”د اُردن
سیند نه راوځئ.“ ۱۸ هغه اِمامان چې د مالِک خُدائ د لوظ
صندوق یې اوچت کړے وو چې کله د سیند د تل نه اوچې
زمکې ته راوختل نو د اُردن په سیند کښې اوبۀ روانې شوې
او د مخکښې په شان په موج کښې بهېدلې. ۱۹ د وړومبۍ
میاشتې په لسمه ورځ خلق د اُردن سیند نه پورې وتل او په
جِلجال کښې یې خیمې ولګولې چې د یریحو نمرخاتۀ طرف
ته دے. ۲۰ د اُردن سیند نه چې کوم دولس کاڼی اخستے
شوی وُو نو یشوَع هلته ډېرے کړل. ۲۱ او بنی اِسرائیلو ته
یې وفرمائیل، ”په راتلونکی وختونو کښې چې کله ستاسو بچی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درنه تپوس وکړی چې د دې کاڼو مطلب څهٔ دے، ۲۲ نو
تاسو به ورته د هغه وخت په حقله ووايئ چې کله بنی
اِسرائيل د اُردن په سيند کښې په اوچه زمکه تېر شوی ؤو.
۲۳ هغوئ ته ووايئ چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک د
اُردن سيند تر هغې پورې اوچ کړے وو چې مونږ ترې نه
واوړېدلو لکه څنګه چې هغهٔ بحرِقُلزم تر هغې پورې اوچ کړے
وو چې مونږ اوړېدلی نهٔ ؤو، ۲۴ او د دې په وجه به د دُنيا
ټولو قومونو ته پته ولګی چې د مالِک خُدائ په لاس کښې
قُدرت دے او تاسو به د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نه د
همېشه دپاره يرېږئ.“

## پينځم باب

**۵** ۱ د اُردن نمرپرېواتهٔ طرف ته د اموريانو ټول
بادشاهان او د مديترانی د سمندر په غاړه د کنعانيانو ټول
بادشاهان خبر شول چې مالِک خُدائ د اُردن سيند تر هغې
پورې اوچ کړے وو چې اِسرائيليان ترې نه واوړېدل هغوئ د
بنی اِسرائيلو نه دومره ويرېدل چې مرګ حال شول.

## په جِلجال کښې سنت

۲ بيا مالِک خُدائ يشوَع ته وفرمائيل، ”د تېرو کاڼو نه
چړې جوړې کړه او اِسرائيليان سنت کړه.“ ۳ نو يشوَع هم
هغه شان وکړل څنګه چې مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو او
هغهٔ اِسرائيليان په هغه ځائ کښې سنت کړل چې ورته د
سنت غر وئيلے شو. ۴-۶ کله چې اِسرائيليان د مِصر نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان شول نو د هغوئ ټول نارينه سنت شوی وُو. خو د
هغوئ هغه يو کس هم سنت شوے نهٔ وو چې په بيابان کښې
د ځلوېښتو کالو تېرېدو په دوران کښې پيدا شوی وُو. او کله
چې دا موده تېره شوه نو هغه ټول سړی د مالِک خُدائ د
نافرمانئ په وجه مړهٔ شول چې د هغوئ عُمر د مِصر نه د تلو
په وخت کښې د جنګ کولو وو، نو هم هغه شان وشول لکه
څنګه چې هغهٔ قسم خوړلے وو چې هغوئ به هغه مُلک ونهٔ
ګوری چې پئ او شات په کښې ډېر تېر وی او هغهٔ د هغوئ
پلار نيکهٔ سره د دې لوظ کړے وو. ٧ د دغه سړو زامن
هيڅکله سنت شوی نهٔ وُو بلکې دا هغه نوے نسل وو کوم
چې يشوَع سنت کړل. ٨ د سنت کېدو نه پس ټول نران تر
هغې پورې په کېمپ کښې پاتې شُو چې روغ شوی نهٔ وُو. ٩
مالِک خُدائ يشوَع ته وفرمائيل، ”نن ما تاسو په مِصر کښې
د غلامئ د شرم نه آزاد کړی يئ.“ او په دې وجه په هغه ځائ
جِلجال نوم کېښودے شو چې تر نن ورځې پورې هم په هغه
نوم يادېږی. ١٠ کله چې بنی اِسرائيلو د يريحو سره نزدې د
جِلجال په مېدان باندې خېمې ولګولې نو هغوئ د هغې
مياشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام د فسحې اختر وکړو.
١١ په ورپسې ورځ هغوئ په اول ځل هغه خوراک وکړو چې
په کنعان کښې پيدا شوے وو يعنې ورېتې دانې او پتيره
روټئ. ١٢ چې بنی اِسرائيلو د هغه پېداوار په اول ځل
وخوړو نو من پرې بند شول او نور من ورته نهٔ مِلاوېدل. نو
هم د هغه وخت نه هغوئ به هغه څهٔ خوړل چې په کنعان
کښې پيدا کېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت يشوَع او تُوره په لاس سړے

١٣ يوه ورځ چې يشوَع يريحو سره نزدې وو نو ناڅاپه يې يو
سړے تُوره په لاس مخې ته ولاړ وليدو. يشوَع ورنزدې شو او
تپوس يې ترې نه وکړو، "تهٔ زمونږ ملګرے يې کهٔ زمونږ
دشمن يې؟" ١٤ هغهٔ جواب ورکړو، "يو سره هم نهٔ يم، زهٔ د
مالِک خُدائ د لښکر مشر يم." يشوَع په زمکه پړمخې پرېوتو
او وې فرمائيل، "صاحِبه زهٔ ستا خِدمت کوونکے يم. تهٔ څهٔ
غواړې چې زهٔ يې وکړم؟" ١٥ د مالِک خُدائ د لښکر مشر
هغهٔ ته وفرمائيل، "څپلۍ وباسه ځکه چې تهٔ په مقدسه زمکه
ولاړ يې." او يشوَع هم هغه شان وکړل چې څهٔ ورته فرمائيلے
شوی وُو.

## د يريحو غورزېدل

٦ ١ نو د يريحو دروازې پخې بندې وساتلے شوې چې
بنی اِسرائيليان ورننه نهٔ وځی. نو د ښار نه نهٔ څوک وتے
شول او نهٔ څوک ورننوتے شول. ٢ مالِک خُدائ يشوَع ته
وفرمائيل، "ما يريحو سره د هغې د بادشاه او سره د هغې د
بهادرو سپاهيانو، تا ته حواله کړے دے. ٣ تهٔ او ستا
سپاهيان به روزانه تر شپږو ورځو پورې يو چکر د ښار نه
ګېرچاپېره لګوئ. ٤ اووهٔ اِمامان به د لوظ صندوق نه
مخکښې روان شی چې د هر يو سره به يو يو بيګل وی. نو په
اوومه ورځ به تهٔ او ستا سپاهيان د ښار نه ګېرچاپېره اووهٔ
چکرې لګوئ او اِمامان بيګلې غږوی. ٥ بيا دې هغوئ په
يو اوږد آواز سره بيګل وغږوی. او څنګه چې تاسو دا آواز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واورئ نو ټول خلق دې د اوچت آواز سره يو نعره ووهی نو د
ښار ديوالونه به راوغورزيږی او بيا به ستاسو ټول لښکر
سيدها ښار ته ورننوځی.“ ٦ نو يشوَع د نون زوئ اِمامان
راوغوښتل او ورته يې وفرمائيل، ”د لوظ صندوق واخلئ او
په تاسو کښې دې اووهٔ اِمامان د بيګلو سره مخکښې روان
شی.“ ٧ بيا هغهٔ خلقو ته حُکم ورکړو چې، ”د ښار نه
ګېرچاپېره مزل شروع کړئ او وسله بند سړی دې د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق نه مخکښې روان وی.“ ٨-٩ نو
چې څنګه يشوَع حُکم کړے وو، وسله بند سړی د بيګلو
غږوونکو اِمامانو نه مخکښې روان شول او په هغوئ پسې هغه
اِمامان روان وُو چا چې د لوظ صندوق اوچت کړے وو او
شا ته ورته نور وسله بند سړی وُو. او په هغه ټول وخت کښې
بيګلې غږېدې. ١٠ خو يشوَع خلقو له حُکم ورکړو چې،
”چغې مهٔ وهئ او چې تر کومې ورځې پورې ما حُکم نهٔ وی
درکړے نو د خولې نه يوه خبره هم مهٔ وباسئ.“ ١١ هغهٔ دې
کسانو ته وفرمائيل چې، ”د مالِک خُدائ د لوظ صندوق يو
ځل د ښار نه ګېرچاپېره وګرځوئ.“ بيا هغوئ کېمپ ته
واپس راغلل او شپه يې هلته تېره کړه. ١٢-١٣ يشوَع په
وريسې ورځ سحر وختی پاڅېدو او په دويم ځل اِمامانو او
سپاهيانو د ښار نه ګېرچاپېره چکر ولګولو هم په هغه ترتيب
سره چې په وړاندينۍ ورځې يې کړی وُو. مخکښې وسله بند
سړی، وريسې اووهٔ اِمامان چې اووهٔ بيګلې يې غږولې، او بيا
هغه اِمامان چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق يې اوچت
کړے وو، او په آخر کښې شاته نور وسله بند سړی وُو. او په
هغه دوران کښې بيګلې غږېدې. ١٤ نو په دويمه ورځ هغوئ
د ښار نه ګېرچاپېره يو ځل بيا چکر ولګولو او بيا کېمپ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واپس راغلل. هغوئ شپږ ورځې داسې کول. ۱۵ په اوومه
ورځ سحر وختی چې رڼا شروع کېده نو هغوئ پاڅېدل او په
دغه ورځ يې د ښار نه ګېرچاپېره اووهٔ چکرې ولګولې. صِرف
په دې ورځ هغوئ ګېرچاپېره اووهٔ چکرې ولګولې. ۱۶ په
اووَم چکر باندې چې کله اِمامانو بيګلې وغږولې نو يشوَع
خلقو له حُکم ورکړو، ”چغې ووهئ ځکه چې مالِک خُدائ دا
ښار تاسو له درکړے دے. ۱۷ دا ښار او په دې کښې هر
څهٔ به مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه د تباه کولو دپاره پېش
کړے شی. صِرف راحب کنجره او د هغې خاندان به بچ
کړے شی ځکه چې هغې زمونږ جاسوسانو له پناه ورکړې
وه. ۱۸ کوم څيزونه چې تباه کولے شی د هغې نه به تاسو
هيڅ هم نهٔ اخلئ، کهٔ چرې تاسو داسې وکړئ نو تاسو به د
بنی اِسرائيلو په کېمپ باندې تکليف او تباهی راولئ. ۱۹ هر
څهٔ چې د سپينو زرو، سرو زرو، زېړو يا د اوسپنې نه جوړ
وی هغه به مالِک خُدائ ته وقف کړے شی. او هغه به د
مالِک خُدائ په خزانه کښې کېښودے شی.“ ۲۰ او اِمامانو
بيګلې وغږولې او چې څنګه خلقو د دې آواز واورېدو نو
هغوئ يوه اوچته نعره ووهله او دېوالونه راوغورزېدل. بيا ټول
لښکر سيدها ښار ته ننوتلو او قبضه يې کړو. ۲۱ هغوئ په
ښار کښې هر يو کس، سړی او ښځې، ځوانان او بوډاګان په
خپلو تُورو باندې ووژل. هغوئ څاروی، ګډې او خرونه هم
ووژل. ۲۲ خو يشوَع هغه دوو کسانو ته وفرمائيل چا چې
جاسوسی کړې وه، ”د هغه کنجرې کور ته لاړ شئ او څنګه
چې تاسو د هغې سره وعده کړې ده هغه او د هغې خاندان
راولئ.“ ۲۳ نو هغوئ لاړل او راحب يې سره د هغې د مور
او پلار، ورونړو او خوېندو او باقی خاندان سره رابهر کړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ هغه ټول خاندان او نوکران محفوظ ځائ ته بوتلل چې
د بنی اِسرائيلو کېمپ سره نزدې وو. ۲۴ بيا هغوئ ښار او
په هغې کښې هر څۀ وسوزول، خو صِرف سرۀ زر، سپين
زر، زيړ او اوسپنه هغوئ پرېښودل او د مالِک خُدائ په
خزانه کښې يې کېښودل. ۲۵ خو يشوَع د راحب کنجرې او
د هغې د ټولو خپلوانو ژوند بچ کړو، ځکه چې هغۀ کوم
جاسوسان يريحو ته لېږلی وُو هغوئ له يې پناه ورکړې وه. د
هغې اولاد تر اوسه پورې د بنی اِسرائيلو سره اوسيږی. ۲۶
په هغه وخت يشوَع سختې ښېرې وکړې چې، ”څوک هم د
يريحو د ښار د دوباره جوړولو کوشش کوی نو د مالِک
خُدائ غضب دې ورباندې وی. څوک هم چې د دې بنياد
کېږدی نو هغه دې د مشری زوئ نه لاس ووينځی. څوک هم
چې د دې دروازې جوړوی نو هغه دې د کشر زوئ نه لاس
ووينځی.“ ۲۷ نو مالِک خُدائ د يشوَع مل وو او هغه په ټول
مُلک کښې مشهور شو.

## د عکن ګناه

۷ ۱ خو بنی اِسرائيلو مالِک خُدائ ته د تباه کېدونکو
څيزونو سره خيانت وکړو. عکن نومې سړی د دې حُکم
نافرمانی وکړه نو مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو ته سخت غصه
شو. عکن د کرمی زوئ او د زبدی نمسے وو د زارح د
خاندان سره يې تعلق لرلو او دا د يهوداه د قبيلې يوه حِصه
وه. ۲ يشوَع څۀ سړی د يريحو نه د دې حُکم سره ولېږل
چې د عی ښار جاسوسی وکړی. د عی ښار د بيت‌ايل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نمرخاتهٔ په طرف او د بيت‌آون سره نزدې وو. نو سړى لاړل
او جاسوسى يې وکړه. ۳ او کله چې هغوئ راواپس شول
نو يشوَع له يې خبر ورکړو چې، ”د ټولو خلقو په عى باندې د
حملې کولو ضرورت نشته. صِرف دوه درې زره سړى
ولېږه. ټول لښکر مهٔ ستړے کوه ځکه چې هغه دومره لوئ
ښار نهٔ دے.“ ۴ نو تقريباً درې زره اِسرائيلو په هغوئ
باندې حمله وکړله خو د عى ښار د خلقو نه راوتښتېدل. ۵
د عى سړى د ښار د دروازې نه په هغوئ پسې شول او د
کانونو پورې ورپسې لاړل او د غونډۍ په لاره باندې يې ترې
نه تقريباً شپږ دېرش کسان ووژل. نو بنى اِسرائيلو حوصله
بائيله او ويرېدل. ۶ يشوَع او د بنى اِسرائيلو مشرانو د غمه
جامې وشلولې او د مالِک خُدائ د لوظ صندوق په مخکښې
يې ځانونه په زمکه باندې پړمخې راوغورزول او تر ماښامه
پورې هلته پراتهٔ وُو، د هغوئ په سرونو کښې خاورې وې چې
د هغوئ خفګان ترې نه ښکارېدو. ۷ او يشوَع وفرمائيل،
”اے مالِکه خُدايه، تا ولې مونږ د اُردن نه راپورې وويستلو؟ د
دې دپاره چې مونږ اموريانو ته حواله کړې؟ چې مونږ تباه
کړې؟ مونږ د اُردن په بله غاړه باندې ولې ايسار نهٔ شُو؟ ۸
اے مالِکه خُدايه، اوس چې بنى اِسرائيل د دشمنانو نه په شا
شوى دى نو زهٔ څهٔ ووايم؟ ۹ کنعانيان او د مُلک نور خلق
به د دې نه خبر شى. هغوئ به مونږ راګېر کړى او زمونږ نوم
به د زمکې د مخ نه ختم کړى. بيا به تهٔ د خپل عزتمند نوم د
بچ کولو دپاره څهٔ کوې؟“ ۱۰ مالِک خُدائ يشوَع ته
وفرمائيل، ”ودرېږه. تهٔ ولې داسې پړمخې پروت يې؟ ۱۱ بنى
اِسرائيلو ګناه کړې ده. هغوئ زما سره هغه لوظ مات کړے
دے چې ما ورته حُکم کړے وو چې دوئ به يې نهٔ ماتوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د هغه څیزونو نه څهٔ اخستی دی چې کوم وقف کولے
شول. هغوئ هغه پټ کړل، د هغې په حقله يې دروغ ووئيل او
د خپل سامان سره يې کېښودل. ۱۲ نو په دې وجه بنی
اِسرائيل د خپلو دشمنانو مقابله نهٔ شی کولے. هغوئ د خپلو
دشمنانو نه په شا شول ځکه چې هغوئ په خپله اوس د تباهئ
حقدار دی. زهٔ به تر هغې پورې نور ستاسو مل نهٔ يم چې
تاسو هغه وقف شوی څيزونه تباه کړی نهٔ وی چې کوم تاسو
سره دی. ۱۳ پاڅه. خلق زما حضور ته راتلو دپاره پاک او
تيار کړه. هغوئ ته ووايه چې سبا تيار اوسئ ځکه چې زهٔ
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک داسې وايم چې، بنی
اِسرائيلو، تاسو سره وقف شوی څيزونه دی. تاسو تر هغې
پورې د خپلو دشمنانو مقابله نهٔ شئ کولے چې دا څيزونه مو
لرې کړی نهٔ وی. ۱۴ هغوئ ته ووايه چې په سحر کښې به
هغوئ قبيله په قبيله بهر مخې ته راوستے شی. او کومه قبيله
چې زهٔ په نښه کړم هغه به قبيله په قبيله مخې ته راوستے
شی. او کومه قبيله چې زهٔ په نښه کړم هغوئ به خاندان په
خاندان مخې ته راوستے شی. او کوم خاندان چې زهٔ په نښه
کړم هغوئ کښې به يو په يو مخې ته راوستے شی. ۱۵
څوک چې په نښه کړے شو او حرام څيزونه ورسره پيدا
شول نو هغه به په اور باندې د خپل خاندان او د خپل هر څيز
سره سوزولے شی. ځکه چې هغوئ بنی اِسرائيل سخت
شرمولی دی او زما لوظ يې مات کړے دے.“ ۱۶ په ورپسې
سحر وختی يشوَع بنی اِسرائيل قبيله په قبيله مخکښې راوستل
او د يهوداه قبيله په نښه کړے شوه. ۱۷ هغهٔ د يهوداه قبيله
خاندان په خاندان مخکښې راوستل او د زارح قبيله په نښه
کړے شوه. بيا هغهٔ د زارح قبيله خاندان په خاندان مخکښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوسته او د زبدی قبیله په نښه کړے شوه. ۱۸ بیا هغهٔ د
زبدی د خاندان نه یو په یو مخکښې راوستو او عکن د کرمی
زویٔ او د زبدی نمسے په نښه کړے شو. ۱۹ یشوَع هغهٔ ته
وفرمائیل، "زما زویه، د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک په وړاندې اِقرار وکړه او رښتیا ووایه. اوس ما ته ووایه
چې تا څهٔ کړی دی. زما نه د پټولو کوشش مهٔ کوه." ۲۰
عکن جواب ورکړو، "دا رښتیا دی چې ما د مالِک خُدائ د
بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک خِلاف ګناه کړې ده او دا کار مې
کړے دے، ۲۱ په هغه څیزونو کښې چې مونږ لوټ کړی وُو
ما په کښې یوه ښائسته بابلی چُوغه او تقریباً دوه کلو سپین
زر او نیم کلو نه زیاته د سرو زرو خښته ولیده. هغه زما ډېر
زیات خوښ شول نو ما واخستل. تهٔ به وګورې چې هغه زما
په خیمه کښې ښخ دی او په ښېخ کښې یې سپین زر دی." ۲۲
نو یشوَع څهٔ سړی هلته ولېږل، هغوئ خیمې ته ورمنډه کړه
او ګورئ چې هغه څیزونه یې هلته ومونډل چې ښخ وُو او په
ښېخ کښې یې سپین زر وُو. ۲۳ او هغوئ هغه د خیمې نه بهر
راوویستل او یشوَع او ټولو بنی اِسرائیلو له یې راوړل او د
مالِک خُدائ په حضور کښې یې کېښودل. ۲۴ یشوَع او د
بنی اِسرائیلو ټول قوم عکن، د هغهٔ زامن او لوڼه، سپین زر،
چُوغه، د سرو زرو ښخته په قبضه کښې واخستل او سره د
دې، د هغهٔ څاروی، خرونه، ګډې، خیمه او د دې نه علاوه هر
څهٔ چې هغهٔ لرل هغوئ واخستل او د مصیبت وادئ ته یې
یوړل. ۲۵ او یشوَع وفرمائیل، "تا ولې په مونږ داسې سخت
تکلیف راوستے دے؟ اوس به مالِک خُدائ په تا تکلیف
راولی." بیا ټولو خلقو عکن سنګسار کړو او مړ شو. هغوئ د
هغهٔ خاندان سنګسار کړل او هغوئ یې سره د هر څهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسوزل. ۲۶ هغوئ د هغۀ دپاسه د کاڼو يو غټ ډيرے جوړ
کړو کوم چې تر نن ورځې پورې هلته دے. نو د مالِک خُدائ
غصه سړه شوه او په دې وجه دغه ځائ ته تر اوسه پورې د
مصيبت وادی وئيلے شی.

## د عی نيول او تباه کېدل

۸ ۱ مالِک خُدائ يشوَع ته وفرمائيل، ”يرېږه مه او مۀ
بې‌حوصلې کېږه. ټول لښکر ځان سره کړه او عی ته لاړ شه.
زۀ به د عی په بادشاه، د هغۀ په خلقو او په ښار تا له فتح
درکړم او هغه مُلک به ستا شی. ۲ تاسو به عی او د هغې د
بادشاه سره هغه څۀ کوئ کوم چې تاسو د يريحو او د هغې
بادشاه سره کړی وُو. خو دا ځل تاسو د هغوئ لوټ شوے
مال او ځناور په خپل استعمال کښې راوستلے شئ. د ښار
شا ته د هغوئ خِلاف حملې کولو دپاره په پټ ځائ کښې
کښېنئ.“ ۳ نو يشوَع د خپلو ټولو سپاهيانو سره تيار شو
چې عی ته لاړ شی. هغۀ د خپل لښکر ديرش زره د ټولو نه ښۀ
سپاهيان خوښ کړل او هغوئ يې د شپې ولېږل ۴ او دا
حُکم يې ورکړو، ”د ښار بل طرف ته پټ شئ خو ډېر لرې مۀ
ځئ او حملې کولو ته تيار شئ. ۵ زۀ او زما سړی به ښار
ته نزدې ورشُو. کله چې د عی خلق زمونږ خِلاف راوځی نو
مونږ به واپس رامنډه کړُو بلکل هم هغسې لکه چې مونږه په
اول ځل کړی وُو. ۶ هغوئ به په مونږ پسې وی او د ښار
نه به يې لرې بوځُو. هغوئ به داسې خيال کوی چې د
مخکښې په شان مونږ د هغوئ نه تښتُو. ۷ بيا به تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوځئ او په ښار به قبضه وکړئ. نو مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک به دا تاسو له درکړی. ٨ چې هغه ښار قبضه
کړئ نو وې سوزوئ، هم هغسې چې څنګه مالِک خُدائ حُکم
کړے دے. ګورئ ما دا حُکمونه درکړی دی.“ ٩ نو يشوَع
هغوئ ولېږل او هغوئ خپل پټ ځائ ته لاړل چې د عی
نمرېرېواتۀ طرف ته، د عی او بيت‌ايل په مينځ کښې دے.
يشوَع په کېمپ کښې د خلقو په مينځ کښې شپه تېره کړه.
١٠ يشوَع سحر وختی پاڅېدو او سپاهيان يې يو ځائ ته
راغونډ کړل. بيا هغۀ او د بنی اِسرائيلو مشرانو هغوئ عی ته
بوتلل. ١١ سپاهيان د هغۀ سره د ښار د غټې دروازې طرف
ته لاړل او هلته يې د شمال طرف ته خېمې ودرولې، او هلته د
دوئ او عی تر مينځه يوه وادی وه. ١٢ هغۀ تقريباً پينځۀ زره
سړی د ځان سره کړل او د ښار نمرېرېواتۀ ته يې پټو ځايونو
ته بوتلل چې د عی او د بيت‌ايل تر مينځه وُو. ١٣ نو هغوئ
زيات لښکر د ښار شمالی طرف ته او پټ شوی سړی د ښار
نمرېرېواتۀ طرف ته د جنګ دپاره تيار کړل. يشوَع شپه په
وادئ کښې تېره کړه. ١٤ کله چې د عی بادشاه د يشوَع
سړی وليدل نو هغه په تېزئ سره راووتلو. هغه او د هغۀ ټول
سړی د اُردن د وادئ په طرف د بنی اِسرائيلو سره د جنګ
کولو دپاره هغه مخکښېنی ځائ ته لاړل. او دا پته ورته نۀ وه
چې د شا د طرف نه ورباندې حمله کېدونکې ده. ١٥ يشوَع
او د هغۀ سړو داسې ښکاره کړه چې په شا کېږی او د صحرا
طرف ته تښتی. ١٦ د ښار ټول سړی راغونډ کړے شوی وُو
چې هغوئ پسې شی او چې څومره هغوئ يشوَع پسې تلل نو
د ښار نه نور هم لرې کېدل. ١٧ په عی او بيت‌ايل کښې
داسې يو سړے هم پاتې نۀ شو چې هغه بنی اِسرائيلو پسې نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو تلے. هغوئ ښار کولاو پرېښودو او په بنی اِسرائيلو پسې
وُو. ۱۸ بيا مالِک خُدائ يشوَع ته وفرمائيل، ”خپله نېزه د
عی طرف ته کړه، زهٔ دا ښار تا له درکوم.“ يشوَع ته چې
څنګه ووئيلے شول نو هغسې يې وکړل. ۱۹ او څنګه چې
هغهٔ لاس اوچت کړو نو هغه سړی چې پټ شوی وُو زر
پاڅېدل، ښار ته يې ورمنډه کړه، ورننوتل او قبضه يې کړو.
هغوئ سمدستی په ښار اور ولګولو. ۲۰ کله چې د عی سړو
شاته وکتل نو هغوئ وليدل چې لوګے د آسمان طرف ته
ختو. هغوئ ته د تښتېدلو دپاره لار پاتې نهٔ شوه ځکه چې
کومو بنی اِسرائيلو چې د صحرا طرف ته منډه وهله نو هغوئ
وربانډې د حملې کولو دپاره راواپس شول. ۲۱ کله چې
يشوَع او ټولو بنی اِسرائيلو ته پته ولګېده چې پټو شوو سړو
ښار قبضه کړے دے او اور يې لګولے دے نو هغوئ
راواپس شول او د عی سړی قتلول يې شروع کړل. ۲۲ نو د
هغه ښار نه اِسرائيليان په جنګ کښې د شاملېدو دپاره ښکته
راکوز شول. نو د عی سړی د بنی اِسرائيلو په مينځ کښې ګېر
شوی وُو نو هغوئ ټول ووژلے شول. هيڅ څوک هم ونهٔ
تښتېدل او نهٔ څوک ژوندی پاتې شول. ۲۳ صِرف د عی
بادشاه ژوندے ګېر شو او يشوَع له بوتلے شو. ۲۴ بنی
اِسرائيلو هلته په صحرا کښې خپل ټول دشمنان وژل چرته
چې وربسې راغلی وُو. او بيا هغوئ عی ته واپس لاړل او هلته
يې هم هر يو کس ووژلو. ۲۵-۲۶ په هغه ورځ يشوَع تر هغې
پورې خپله نېزه د عی طرف ته نيولې وه او ښکته کوله يې نه
ترڅو چې هلته هر يو کس قتل کړے شوے نهٔ وو. د عی ټول
خلق قتل کړے شول چې دولس زره سړی او ښځې په کښې
شامل وُو. ۲۷ لکه څنګه چې مالِک خُدائ يشوَع ته فرمائيلی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو بنی اِسرائیلو په ښار کښې مال او څاروی د خپلو ځانونو
دپاره قبضه کړل. ۲۸ یشوَع عی وسوزولو او په کنډر یې بدل
کړو او هغه تر نن ورځې پورې هم هغسې دے. ۲۹ هغهٔ د
عی بادشاه د یوې ونې سره پهانسی کړو او تر ماښامه پورې
یې هلته پرېښودو. په ماښام کښې یشوَع حُکم وکړو چې د
هغهٔ لاش دې لرې کړے شی او د ښار دروازې سره دې
وغورزولے شی. هغوئ هغه د کاڼو د غټ ډېرى لاندې پټ
کړو کوم چې تر نن ورځې پورې هلته دے.

## د عیبال په غرهٔ د شریعت لوستل

۳۰ بیا یشوَع مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک ته د
عیبال په غرهٔ باندې یوه قربان‌ګاه جوړه کړه. ۳۱ هغه یې د
هغه اصُولو په مطابق جوړه کړه چې د مالِک خُدائ خادِم
موسیٰ بنی اِسرائیلو ته ښودلی وُو. لکه څنګه چې د موسیٰ د
شریعت په کِتاب کښې لیکلی دی چې، ”قربان‌ګاه دې د
داسې کاڼو نه جوړه وی چې د اوسپنې په آوزار تراشلے
شوی نهٔ وی.“ او په هغې باندې هغوئ مالِک خُدائ ته
سوزېدونکې نذرانې او د سلامتئ نذرانې پېش کړې. ۳۲ هلته
د بنی اِسرائیلو په مخکښې یشوَع په کاڼو باندې د هغه شریعت
یو نقل جوړ کړو کوم چې موسیٰ لیکلے وو. ۳۳ اِسرائیلیان
سره د مشرانو، آفسرانو او قاضیانو او سره د هغه نورو
قومونو چې د هغوئ سره اوسېدل د مالِک خُدائ د لوظ
صندوق دواړو طرفونو ته ودرېدل. او لیویانو اِمامانو ته یې
مخ وو چا چې د لوظ صندوق اوچت کړے وو. نیم خلق
داسې ولاړ وُو چې شا یې د ګِرزیم غرهٔ ته وه او د نیمو خلقو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شا عیبال غرهٔ ته وه. د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ
دوئ ته حُکم کړے وو چې کله ورباندې د برکت موندلو
وخت راشی نو داسې دې وکړی. ۳۴ بیا یشوَع هغه ټول
شریعت ولوستو چې برکتونه او لعنتونه په کښې شامل وُو،
هم هغه شان چې څنګه د شریعت په کِتاب کښې لیکلے
شوی وُو. ۳۵ هغه ټولې غونډې ته د یشوَع په ذریعه د موسیٰ
هر یو حُکم واورولے شو چې په دې غونډه کښې ښځې،
ماشومان او د نورو قومونو هغه خلق هم شامل وُو چې د
هغوئ سره اوسېدل.

## د جبعونیانو د حضرت یشوَع دوکه کول

۹ ۱ چې څهٔ شوی وُو نو د اُردن نمرپرېواتهٔ طرف ته ټول
بادشاهان د هغې نه خبر شول. دا د حِتیانو، اموریانو،
کنعانیانو، فرزیانو، حِویانو او یبوسیانو بادشاهان وُو، څوک
چې د غرونو په مُلک کښې او د نمرپرېواتهٔ په طرف د غرونو
په لمنو کښې او د مدیترانی د سمندر غاړې سره د شمال په
طرف د لبنان غرونو پورې اوسېدل. ۲ هغوئ ټول یو ځائ
شول او د یشوَع او بنی اِسرائیلو خِلاف یې فوجونه راغونډ
کړل. ۳ چې یشوَع د یریحو او عی سره څهٔ کړی وُو نو د
جبعون خلق حِویان د هغې نه خبر شول. ۴ نو هغوئ د
هغهٔ د دوکه کولو فیصله وکړه. هغوئ لاړل او څهٔ خوراک یې
راواخستو او زړې بوجۍ او بیا ګنډلے شوی د میو مشکونه
یې په خرونو باندې بار کړل. ۵ هغوئ زړې مخلے شوې
جامې او مرمت شوې زړې څپلۍ واچولې. او هغه روټۍ چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ځان سره اخستې وه، اوچه او پشمى شوې وه. ۶
بيا هغوئ هغه کيمپ ته ورغلل چې په جِلجال کښې وو او
يشوَع او بنى اِسرائيلو ته يې ووئيل، ”مونږه د لرې مُلک نه
راغلى يُو. مونږ غواړُو چې تاسو مونږ سره يوه معاهده
وکړئ.“ ۷ خو بنى اِسرائيلو ووئيل، ”مونږ تاسو سره څنګه
معاهده وکړُو؟ کېدے شى چې تاسو د نزدې ځائ
اوسېدونکى يئ.“ ۸ هغوئ يشوَع ته ووئيل، ”مونږ ستاسو
خِدمتګار يُو.“ يشوَع د هغوئ نه تپوس وکړو، ”تاسو څوک
يئ؟ او د کوم ځائ نه راغلى يئ؟“ ۹ بيا هغوئ يشوَع ته دا
قيصه بيان کړه، ”صاحِبه، مونږ د مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک په حقله اورېدلى دى او مونږ د هغه هر څۀ نه خبر
شوى يُو چې هغۀ په مِصر کښې کړى دى نو مونږ ځکه د ډېر
لرى مُلک نه راغلو. ۱۰ او څۀ چې هغۀ د اُردن نمرخاتۀ
طرف ته د اموريانو دوو بادشاهانو سره کړى دى يعنې د
حسبون بادشاه سيحون او د بسن بادشاه عوج سره چې هغه
په عستارات کښې اوسېدو. ۱۱ زمونږ مشرانو او زمونږ په
مُلک کښې اوسېدونکو ټولو خلقو مونږ ته ووئيل چې د سفر
دپاره څۀ خوراک تيار کړُو او تاسو سره مِلاوېدو له راشو.
مونږ ته وئيلے شوى وُو چې خپل ځانونه ستاسو خِدمت ته
حاضر کړُو. او تاسو ته ووايو چې تاسو زمونږ سره يو تړون
وکړئ. ۱۲ زمونږ روټۍ ته وګوره، کله چې مونږ د دې سره
د خپلو کورونو نه ستاسو سره مِلاوېدو دپاره راوتُو نو دا لا
ګرمه وه. خو وګوره، اوس دا اوچه شوې ده او پشم يې
کړے دے. ۱۳ کله چې مونږ مشکونه د ميو نه ډک کړل نو
دا نوى وُو. خو وګوره، اوس دا شلېدلى دى. زمونږه جامې
او څپلۍ د اوږد سفر په وجه زړې شوې دى.“ ۱۴ بنى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلو د هغوئ څۀ روټۍ واخستله، خو هغوئ د مالِک
خُدائ سره د دې په حقله مشوره ونۀ کړه. ۱۵ يشوَع د
جبعون خلقو سره د امن تړون وکړو او هغوئ يې ژوندى
پرېښودل. د بنى اِسرائيلو مشرانو کلکه وعده وکړه چې په
معاهده باندې به عمل کوى. ۱۶ د تړون نه درې ورځې
وروستو بنى اِسرائيلو ته پته ولګېده چې دا خلق په حقيقت
کښې د نزدې ځائ اوسېدونکى وُو. ۱۷ نو اِسرائيليان روان
شول او درې ورځې پس هغه ښارونو ته ورسېدل چې دا خلق
په کښې اوسېدل، جبعون، کفيره، بيروت او قِريَت‌يعريم. ۱۸
خو بنى اِسرائيلو هغوئ ځکه نۀ شول وژلے چې د هغوئ
مشرانو ورسره د مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک په
نامه کلکه وعده کړې وه. ټولو خلقو د دې په حقله مشرانو ته
شکايت وکړو، ۱۹ خو هغوئ په جواب کښې ووئيل، ”مونږه
هغوئ سره د مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو د خُدائ پاک په
نوم کلکه وعده کړې ده. اوس مونږ هغوئ ته څۀ نقصان نۀ
شُو رسولے. ۲۰ د خپلې وعدې په وجه په مونږ لازم دى
چې هغوئ اوسېدو ته پرېږدو. کۀ مونږ داسې ونۀ کړل نو
خُدائ پاک به مونږ له سزا راکړى. ۲۱ هغوئ مۀ وژنئ خو
هغوئ به زمونږ دپاره لرګى ماتوى او اوبۀ به راوړى.“ او
مشرانو هم دغه مشوره راکړې ده. ۲۲ يشوَع حُکم وکړو چې
د جبعون خلق دې هغۀ له راوستلے شى. او هغۀ د هغوئ نه
تپوس وکړو، ”تاسو ولې مونږ دوکه کړُو او راته مو ووئيل
چې مونږ د لرې ځائ نه راغلى يُو، اګر چې تاسو دلته نزدې
اوسېدئ؟ ۲۳ د دې کار کولو په وجه تاسو لعنتى شوى يئ.
ستاسو خلق به د هميشه دپاره غلامان وى. لرګى به ماتوى او
زما د خُدائ پاک کور ته به اوبۀ راوړى.“ ۲۴ هغوئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جواب کښې ووئيل، ”صاحِبه، مونږ ځکه داسې وکړل چې
مونږ ته پوره خبر رارسيدلے دے چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک خپل خِدمت کوونکی موسیٰ له دا حُکم ورکړے
وو چې دا ټول مُلک تاسو له درکړی او چې ځومره خلق په
هغه مُلک کښې وی نو ويه يې وژنئ. مونږ ستاسو نه سخت
يرېدو نو په دې وجه مو دا کار کړے دے او زمونږ سره د
خپل ژوند فکر وو. ۲۵ اوس مونږ ستاسو په قبضه کښې يُو،
څۀ چې درته ښۀ ښکاری نو هم هغه شان وکړئ.“ ۲۶ نو
يشوَع بنی اِسرائيلو له اجازت ورنۀ کړو چې هغوئ ووژنی.
۲۷ خو هم په هغه وخت هغۀ د هغوئ نه غلامان جوړ کړل
چې لرګی ماتوی او د مالِک خُدائ د قربان‌ګاه او بنی
اِسرائيلو دپاره اوبۀ راوړی. او تر نن ورځې پورې هغوئ په
هغه ځائ کښې هم دا کار کوی چې مالِک خُدائ د خپل
عبادت دپاره غوره کړے دے.

## د اموريانو شکست خوړل

۱۰ ۱ د يروشلم بادشاه ادونی‌صدق خبر شو چې يشوَع
عی قبضه کړے دے او بيخی يې تباه کړے دے او د دې
بادشاه يې وژلے دے، لکه څنګه چې يشوَع د يريحو او د دې
بادشاه سره هم دغه شان کړی وُو. هغه د دې نه هم خبر شو
چې د جبعون خلقو د بنی اِسرائيلو سره صُلح کړې ده او د
هغوئ سره اوسيږی. ۲ د يروشلم خلق د دې په وجه يرې
واخستل ځکه چې جبعون د شاهی ښارونو په شان يو لوئ
ښار وو، دا د عی نه هم لوئ وو او د دې سړی تکړه جنګيالی
وُو. ۳ نو ادونی‌صدق د حبرون بادشاه هوهام له، د يرموت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه پیرام، د لکیس بادشاه یفیع او د عجلون بادشاه دبیر
له دا پیغام ولیږلو، ۴ ”راشئ او په جبعون باندې په حمله
کولو کښې زما مدد وکړئ، ځکه چې د جبعون خلقو د یشوَع
او د بنی اِسرائیلو سره صُلح کړې ده.“ ۵ دې پینځو اموری
بادشاهانو، د یروشلم بادشاه، د حبرون، د یرموت، د لکیس
او د عجلون بادشاه یو لښکر جوړ کړو، جبعون یې محاصره
کړو او حمله یې ورباندې وکړه. ۶ د جبعون سړو یشوَع له
دا خبر ورولیږلو چې هغه د جِلجال په کېمپ کښې وو، ”په
دې وخت کښې مونږ عاجزان هم داسې مۀ پرېږده. سمدستی
راشه او زمونږ مدد وکړه. د غرونو په مُلک کښې ټول اموری
بادشاهان په خپلو کښې ملګری شوی دی او په مونږ یې حمله
کړې ده.“ ۷ نو یشوَع او د هغۀ ټول لښکر د جِلجال نه
روان شول چې په دې کښې تکړه فوجیان هم شامل وُو. ۸
مالِک خُدائ یشوَع ته وفرمائیل، ”د هغوئ نه مۀ یرېږه. ما د
مخکښې نه تا له فتح درکړې ده. د هغوئ یو کس به هم ستا
مقابله نۀ شی کولے.“ ۹ یشوَع او د هغۀ لښکر ټوله شپه د
جِلجال نه جبعون ته مزل وکړو او هغوئ په اموریانو باندې
یوه ناڅاپه حمله وکړه. ۱۰ مالِک خُدائ اموریان د بنی
اِسرائیلو په وړاندې په وارخطایۍ آخته کړل. بنی اِسرائیلو په
جبعون کښې د هغوئ قتلِ عام وکړو او د هغه سړک پورې
وریسې وُو چې بره بیت‌حورون ته تلے دے او په جنوب
کښې د عزیقه او مقیده پورې یې ورباندې حملې کولې. ۱۱
په کوم وخت کښې چې اموریان د بنی اِسرائیلو نه لاندې درې
ته تښتېدل، نو مالِک خُدائ تر عزیقه پورې په هغوئ باندې
لویه ږلۍ ووروله. په ږلۍ باندې د هغې نه هم زیات مړۀ شول
چې څومره بنی اِسرائیلو وژلی وُو. ۱۲ په هغه ورځ کله چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو سرهٔ له په اموریانو باندې فتح
ورکړه، یشوَع د مالِک خُدائ سره خبرې وکړې. هغهٔ د بنی
اِسرائیلو په مخکښې داسې وفرمائیل، ”اے نمره، د جبعون
دپاسه ولاړ اوسه، اے سپوږمۍ، د ایالون په مېدان ودرېږه.“
۱۳ نو نمر نېغ ودرېدو او سپوږمۍ تر هغې پورې حرکت نهٔ
کولو تر کومې پورې چې قوم د خپلو دشمنانو نه بدل نهٔ وو
اخستے. دا د یاشر په کِتاب کښې لیکلی دی. نمر د آسمان
په مینځ کښې ولاړ وو او تقریباً ټوله ورځ پرې نهٔ وتلو. ۱۴
داسې ورځ نهٔ د دې نه مخکښې تېره شوې ده او نهٔ د دې نه
پس راغلې ده، په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د یو سړی
خبرو ته توجو وکړه، ځکه چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو
دپاره جنګ کولو. ۱۵ د دې نه پس، یشوَع او د هغهٔ لښکر په
جِلجال کښې کېمپ ته راواپس شول.

## د یشوَع په ذریعه د پینځو اموری بادشاهانو نیول

۱۶ په هغه وخت هغه پینځهٔ اموری بادشاهان وتښتېدل او د
مقیده په غار کښې پټ شول، ۱۷ یشوَع چا خبر کړو چې
هغوئ په کوم ځائ کښې پټ وُو. ۱۸ هغهٔ وفرمائیل، ”د غار
د خولې مخې ته یو څو غټ کانی راورغړوئ او څهٔ
څوکیداران هلته ودروئ، ۱۹ خو تاسو په خپله هلته مهٔ
ایساربږئ. په دشمن پسې روان اوسئ او د شا د طرف نه
ورباندې حمله وکړئ، هغوئ مهٔ پرېږدئ چې خپلو ښارونو ته
ورسیږی. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له په هغوئ
باندې فتح درکړې ده.“ ۲۰ یشوَع او د بنی اِسرائیلو سرهٔ د
اموریانو لښکر تقریباً ختم کړو، خو څهٔ پاتې کسانو د ښار په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېوالونو کښې دننه د پناه ځائ پيدا کړو او ونهٔ وژلے شول.
٢١ بيا د يشوَع ټول سړی په خېر سره د مقيده په کېمپ
کښې يشوَع له واپس راغلل. د دې نه پس په هغه مُلک کښې
هيچا دا جرأت نهٔ شو کولے چې د بنی اِسرائيلو خِلاف څهٔ
ووائی. ٢٢ بيا يشوَع وفرمائيل، ”د هغه غار خولهٔ کولاو کړئ
او هغه پينځهٔ بادشاهان ما له بهر راوباسئ.“ ٢٣ نو غار
کولاو کړے شو او د يروشلم، حبرون، يرموت، لکيس او
عجلون بادشاهان رابهر کړے شول ٢٤ او هغوئ يشوَع ته
راوستلے شول. يشوَع بيا د بنی اِسرائيلو ټول سړی
راوغوښتل او هغه آفسرانو له يې حُکم ورکړو چې، ”راشئ او
خپلې پښې د بادشاهانو په څټُونو باندې کېږدئ.“ او هغوئ
ورله په څټُونو پښې کېښودې. ٢٥ بيا يشوَع آفسرانو ته
وفرمائيل، ”يرېږئ مه او نهٔ چې بې‌حوصلې شئ. اراده
مضبوطه کړئ او تکړه شئ ځکه چې مالِک خُدائ به ستاسو
ټولو دشمنانو سره هم دغه شان کوی.“ ٢٦ بيا يشوَع
بادشاهان ووژل او په پينځو ونو پورې يې راځوړند کړل او تر
ماښامه پورې د هغوئ لاشونه هلته وُو. ٢٧ د نمرپرېواتو په
وخت کښې يشوَع حُکم وکړو او د هغوئ لاشونه راکوز کړے
شول او هم په هغه غار کښې وغورزولے شول چرته چې
هغوئ مخکښې پټ وُو. د غار په خولهٔ باندې لوئ کاڼی
کېښودلے شول او هغوئ تر اوسه پورې هلته دی.

## د يشوَع نورې اموری علاقې قبضه کول

٢٨ يشوَع حمله وکړه او مقيده او د هغې بادشاه يې په هغه
ورځ ونيولو. هغهٔ په ښار کښې ټول خلق ووژل او هيڅ څوک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم ژوندی پاتې نهٔ شُو. يشوَع د مقيده بادشاه سره هم هغه
شان وکړل چې څهٔ يې د يريحو بادشاه سره کړی وُو. ۲۹ د
دې نه پس، يشوَع او د هغهٔ لښکر د مقيده نه لِبناه ته لاړو او
په دې يې حمله وکړه. ۳۰ مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو له په
دې ښار او د دې په بادشاه باندې هم فتح ورکړه. يشوَع هيڅ
څوک هم ژوندی پرې نهٔ ښودل او هغهٔ د دې بادشاه سره هم
هغه شان وکړل چې څنګه يې د يريحو بادشاه سره کړی وُو.
۳۱ د دې نه پس، يشوَع او د هغهٔ لښکر د لِبناه نه لکيس ته
لاړل، دا يې هم محاصره کړو او حمله يې پرې وکړه. ۳۲ د
جنګ په دويمه ورځ مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو له په لکيس
فتح ورکړه. څنګه چې هغوئ د لِبناه سره کړی وُو، نو هغوئ
هيڅ څوک هم ژوندی پرې نهٔ ښودل او په ښار کښې يې هر يو
کس ووژلو. ۳۳ د جزر بادشاه هورم د لکيس د مدد دپاره
راغلو، خو يشوَع هغهٔ او د هغهٔ لښکر له شکست ورکړو او
هغهٔ يو کس هم ژوندے پرې نهٔ ښودو. ۳۴ وروستو، يشوَع او
د هغهٔ لښکر د لکيس نه عجلون ته لاړل، دا يې محاصره کړو
او حمله يې وربانديې وکړه. ۳۵ هغوئ هم په هغه ورځ دا
قبضه کړو او هلته هر يو کس يې ووژلو، هم هغه شان چې
څنګه يې د لکيس سره کړی وُو. ۳۶ د دې نه پس، يشوَع او
د هغهٔ لښکر د عجلون نه حبرون ته وختل، حمله يې پرې
وکړه ۳۷ او قبضه يې کړو. هغوئ بادشاه، په هغه ښار او
ګېرچاپېره ټولو ښارونو کښې هر يو کس ووژلو. يشوَع هغه
ښار پوره تباه کړو، هم هغه شان چې څنګه هغهٔ د عجلون
سره کړی وُو. په دې کښې هغوئ هيڅ څوک هم ژوندے پرې
نهٔ ښودلو. ۳۸ بيا يشوَع او د هغهٔ لښکر دبير ته وروا‌پس
شول او په دې يې حمله وکړه. ۳۹ هغهٔ دا، د دې بادشاه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګېرچاپېره ښارونه يې قبضه کړل. هغوئ هر يو کس ووژلو.
يشوَع په دبير او د دې د بادشاه سره هم هغه شان کار وکړو
چې څنګه کار يې د حبرون او لِبناه او د دې د بادشاه سره
کړے وو. ۴۰ يشوَع ټول مُلک قبضه کړو. هغۀ د غرونو
مُلک، د نمرخاتۀ طرف ته لاندې علاقې او د نمرپرېواتۀ طرف
ته د غرونو لمنې او په جنوب کښې اوچ مُلک او د دې ټولو
بادشاهانو له يې شکست ورکړو. هغۀ هيڅ څوک هم ژوندے
پرې نۀ ښودو، هر يو کس ووژلے شو. دا هغه څۀ وُو چې
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک يې حُکم کړے وو.
۴۱ يشوَع د قادِس برنيع نه واخله تر غزه پورې او د جشن
ښار ګېرچاپېره علاقې نه واخله تر جبعون ښار پورې ټولو
بادشاهانو له شکست ورکړو. ۴۲ يشوَع دا ټول بادشاهان او
د هغوئ علاقه په يو وخت کښې فتح کړه ځکه چې مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک د بنی اِسرائيلو په جنګ
کښې مدد کولو. ۴۳ د دې نه پس، يشوَع او د هغۀ لښکر په
جِلجال کښې واپس کېمپ ته لاړل.

## د يشوَع يابين او د هغۀ ملګرو له شکست ورکول

۱۱ ۱ کله چې د بنی اِسرائيلو د فتحې خبر د حصور
بادشاه يابين ته ورسېدو، نو هغۀ د مدون بادشاه يوباب، د
سِمرون او اکشاف بادشاهانو له خبر ورولېږلو، ۲ او په
شمال کښې د غرونو مُلک ټولو بادشاهانو، د ګليل ډنډ جنوبی
طرف ته د اُردن په وادۍ کښې بادشاهانو، د ګليل غرونو په
لمن کښې بادشاهانو، او د دور سره نزدې د سمندر په غاړه
بادشاهانو له يې هم خبر ورولېږلو. ۳ هغۀ کنعانيانو له چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اُردن سیند په دواړو طرفونو باندې اوسېدل، او اموریانو،
حِتیانو، فرزیانو او د غرونو په مُلک کښې یبوسیانو له هم
خبر ورولېږلو او داسې هغه حِویانو له یې هم خبر ورولېږلو
چې هغوئ د مصفاه په مُلک کښې د حرمون غرۀ په لمن
کښې اوسېدل. ۴ نو هغوئ د خپلو ټولو فوجیانو سره
راغلل، دا دومره ډېر سړى وُو لکه چې د سمندر په غاړه
شګې وى. د هغوئ سره ډېر آسونه او جنګى ګاډئ هم وې.
۵ دې ټولو بادشاهانو په خپلو کښې اِتحاد وکړو او په یو
ځائ راغلل او د بنى اِسرائیلو خِلاف جنګ کولو دپاره یې د
میروم خوَړ سره خېمې ولګولې. ۶ مالِک خُدائ یشوَع ته
وفرمائیل، ”د هغوئ نه مۀ یرېږه. سبا تر دې وخته پورې به ما
هغوئ ټول د بنى اِسرائیلو دپاره وژلى وى. بیا تۀ به ضرور د
هغوئ آسونه ګوډ کړې او د هغوئ جنګى ګاډئ به
وسوزوې.“ ۷ نو یشوَع او د هغۀ ټولو سړو د میروم د خوَړ
سره په هغوئ باندې اچانک حمله وکړه. ۸ مالِک خُدائ
بنى اِسرائیلو له په هغوئ باندې فتح ورکړه، اِسرائیلیان
ورپسې وُو او په شمال کښې تر مسرفات مائم او صیدا او
نمرخاتۀ طرف تر مصفاه وادئ پورې ورپسې وُو. جنګ تر
هغې پورې جارى وو چې د دشمن یو کس هم ژوندے پاتې نۀ
شو. ۹ یشوَع د هغوئ سره هم هغه شان وکړل چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے وو یعنې هغۀ د هغوئ آسونه شل
ګوډ کړل او جنګى ګاډئ یې ورله وسوزولې. ۱۰ بیا یشوَع
راواپس شو، حصور یې ونیولو او د دې بادشاه یې ووژلو. په
هغه وخت کښې حصور د ټولو بادشاهتونو مرکزى ښار وو.
۱۱ هغوئ هلته هر یو کس ووژلو، هیڅ څوک هم ژوندے
پاتې نۀ شو او ښار وسوزولے شو. ۱۲ یشوَع هغه ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارونه او د دې بادشاهان ونيول، هر يو کس يې ووژلو، هم
هغه شان چې څنګه د مالِک خُدائ خِدمت کوونکى موسىٰ
حُکم کړے وو. ۱۳ خو بنى اِسرائيلو هغه يو ښار هم ونۀ
سوزولو کوم چې په غونډو باندې جوړ شوے وو خو يشوَع
صِرف حصور سوزولے وو. ۱۴ بنى اِسرائيلو د دې ښارونو
نه ټول مالِ غنيمت او څاروى بوتلل او د خپلو ځانونو دپاره
يې وساتل. خو هغوئ ټول کسان ووژل، هيڅ څوک هم ژوندى
پاتې نۀ شُو. ۱۵ مالِک خُدائ خپل خِدمت کوونکى موسىٰ له
حُکم ورکړے وو، موسىٰ دا حُکم يشوَع له ورکړو او يشوَع
ورباندې عمل وکړو. هغۀ هغه هر څۀ وکړل چې مالِک خُدائ
موسىٰ ته د هغې حُکم کړے وو.

## هغه علاقې چې حضرت يشوَع قبضه کړې وې

۱۶ يشوَع هغه ټول مُلک قبضه کړو د غرونو مُلک، د غرونو
لمنې، چې په شمال او جنوب دواړو طرفونو باندې وُو، د
جشن ټوله علاقه او د دې جنوبى طرف ته خُشک مُلک او هم
دې سره د اُردن د وادۍ. ۱۷-۱۸ هغه علاقه په جنوب کښې
د ادوم سره نزدې د خلق غر نه واخله، په شمال کښې د
بعل‌جاد پورې او د لبنان په وادۍ کښې د حرمون غر جنوبى
طرف پورې خوره شوه. يشوَع د دې علاقې د بادشاهانو سره
تر ډېر وخته پورې جنګ وکړو، خو هغۀ هغوئ ټول ونيول او
وې وژل. ۱۹ جبعون هغه يواځينے ښار وو چې د بنى
اِسرائيلو سره يې صُلح وکړه، هلته څۀ حِويان اوسېدل. باقى
نور ټول په جنګ کښې فتح شوى وُو. ۲۰ مالِک خُدائ
هغوئ په خپله تکړه کړى وُو چې د بنى اِسرائيلو سره جنګ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړی، نو داسې هغوئ بېخی تباه کړے شول او ټول په
بې‌رحمئ سره ووژلے شول. دا هغه څۀ وُو چې مالِک خُدائ
د دې حُکم موسیٰ له ورکړے وو. ٢١ په هغه وخت کښې
يشوَع لاړو او د ديوانو نسل عناقيان يې تباه کړل چې د غرونو
په مُلک کښې، حبرون، دبير، عناب او د يهوداه او بنی
اِسرائيل د غرونو په ټول مُلک کښې اوسېدل. يشوَع هغوئ او
د هغوئ ښارونه پوره تباه کړل. ٢٢ د بنی اِسرائيلو په مُلک
کښې يو عناقے هم پاتې نۀ شو، اګر چې څۀ عناقيان په غزه،
جات او اشدود کښې پاتې وُو. ٢٣ يشوَع هغه ټول مُلک
قبضه کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ موسیٰ ته
حُکم کړے وو. يشوَع دا بنی اِسرائيلو له ورکړو چې خپل
ميراث يې شی او په هره قبيله باندې يې په حِصو کښې تقسيم
کړو. نو بيا په هغه مُلک کښې جنګونه ختم شول او امن و
امان شو.

## د حضرت موسیٰ نه شکست خوړونکی بادشاهان

١٢ ١ بنی اِسرائيلو دوو بادشاهانو له شکست ورکړو،
نو د اُردن نمرخاتۀ طرف ته، د ارنون وادۍ نه واخله د اُردن
تر وادۍ پورې او هم داسې په شمال کښې د حرمون غر
پورې ټول مُلک يې فتح کړے وو او قبضه يې پرې کړې وه.
٢ يو اموری بادشاه سيحون وو چې هغۀ به په حسبون
باندې بادشاهی کوله. د هغۀ په بادشاهۍ کښې نيم جِلعاد
شامل وو، د عروعير نه واخله چې د ارنون وادۍ په غاړه وو
او د هغه وادۍ په مينځ کښې ښار او هم داسې د يبوق سيند
پورې چې دا د عمون سرحد وو، ٣ په دې کښې د اُردن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وادی یعنې په جنوب کښې د ګلیل دریاب نه واخله د مړ
دریاب نمرخاتهٔ طرف تر بیت‌یسیموت پورې او د پِسګه غر د
لمنو پورې علاقې شاملې وې. ۴ هغوئ د بسن بادشاه عوج
له هم شکست ورکړو، څوک چې د رفائیم آخری پاتې شوے
وو، هغهٔ په عستارات او ادرعی باندې بادشاهی کوله. ۵ د
هغهٔ په بادشاهۍ کښې د حرمون غر، سلکه او د جسور
سرحدونو پورې ټول بسن او معکه او نیم جِلعاد او هم داسې
د حسبون بادشاه سیحون د علاقې پورې مُلک په کښې شامل
وو. ۶ موسیٰ او بنی اِسرائیلو دې دوو بادشاهانو له
شکست ورکړے وو. د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ
د هغوئ مُلک د روبین، جاد او د منسی نیمې قبیلې له د دې
دپاره ورکړے وو چې د هغوئ خپل میراث شی.

## هغه بادشاهان چې حضرت یشوَع شکست ورکړے وو

۷ نو یشوَع او بنی اِسرائیلو د اُردن نمرپرېواتهٔ طرف ته دې
ټولو بادشاهانو له شکست ورکړو چې په دې کښې د لبنان
وادئ بعل‌جاد نه واخله په جنوب کښې د ادوم سره نزدې د
خلق غر پورې علاقې شاملې وې. یشوَع دا مُلک په قبیلو
باندې تقسیم کړو او دا یې ورکړو چې پوخ میراث یې شی.
۸ په دې حِصه کښې د غرونو مُلک، نمرپرېواتهٔ طرف ته د
غرونو لمنې، د اُردن وادی او د دې لمنې، نمرخاتهٔ طرف ته
کوزه علاقه او په جنوب کښې خُشکه علاقه شامله وه. په دې
علاقه کښې حِتیان، اموریان، کنعانیان، فرزیان، حِویان او
یبوسیان اوسېدل. ۹ بنی اِسرائیلو چې کومو بادشاهانو له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شکست ورکړو هغه دا دی، یریحو، عی چې بیت‌ایل ته نزدې
وو، ۱۰ یروشلم، حبرون، ۱۱ یرموت، لکیس، ۱۲ عجلون،
جزر، ۱۳ دبیر، جدر، ۱۴ حُرمه، عراد، ۱۵ لِبناه، عدولام،
۱۶ مقیده، بیت‌ایل، ۱۷ تفوح، حِفر، ۱۸ افیق، لشرون،
۱۹ مدون، حصور، ۲۰ سِمرون مرون، اکشاف، ۲۱
تعنک، مِجدو، ۲۲ قادِس، یقنِعام چې په کرمل کښې وو، ۲۳
دور چې د سمندر په غاړه وو، جوئیم، چې په ګلیل کښې وو،
۲۴ او تِرضاه. دا ټول یو دیرش بادشاهان وُو.

## د کنعان په پاتې علاقو باندې د قبضې کولو حکم

۱۳ ۱ اوس یشوَع ډېر بوډا شوے وو. مالِک خُدائ هغهٔ
ته وفرمائيل، ”تهٔ ډېر بوډا شوے يې خو تر اوسه پورې په ډېره
علاقه باندې قبضه کول پاتې دی، ۲ د فلستیانو او
جسوریانو ټوله علاقه، ۳ او ورسره په جنوب کښې د
عویانو ټوله علاقه. د مِصر سرحد سره د سیحور نِهر نه
واخله په شمال کښې د عقرون سرحد پورې علاقه د کنعانیانو
ګڼلے شوه، او د فلستیانو بادشاهان په غزه، اشدود،
اسقلون، جات او عقرون کښې اوسېدل. ۴ تر اوسه پورې
د کنعانیانو او معاره ټول مُلک هلته دے کوم چې د
صیدانیانو دے او هم داسې د اموری سرحد افیق پورې، ۵
د جبلیانو مُلک، نمرخاتهٔ طرف ته ټول لبنان، د بعل‌جاد نه
چې د حرمون غر جنوب طرف ته دے د حمات درې پورې.
۶ په دې کښې د هغه صیدانیانو ټوله علاقه شامله ده کوم
چې د لبنان د غرونو او مسرفات مائم په مینځ کښې د غرونو
په مُلک کښې اوسیږی. کله چې اِسرائیلیان مخ په وړاندې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځی نو زۀ به دا ټول خلق وشړم. لکه څنګه چې ما حُکم
درکړے دے نو تۀ به هغه مُلک په بنی اِسرائيلو باندې تقسيم
کړې. ۷ نو اوس دا زمکه په هغه نورو نهو قبيلو او د منسى
په نيمه قبيله باندې تقسيم کړه چې د هغوئ خپل ميراث
شى.“

## د اُردن نمرخاتۀ طرف ته علاقې تقسيم کېدل

۸ د روبين، جاد او د منسى نيمې قبيلې د مخکښې نه هغه
زمکه اخستې وه کومه چې موسىٰ، د مالِک خُدائ خِدمتګار
هغوئ له ورکړې وه، دا د اُردن سيند نمرخاتۀ طرف ته وه.
۹ د هغوئ علاقه د ارنون وادۍ په غاړه تر عروعير او د
هغه وادۍ په مينځ کښې ښار پورې خوره شوه او په دې کښې
د ميدبا نه واخله تر ديبون پورې ټولې اوچتې علاقې شاملې
وې. ۱۰ دا د عمون سرحد پورې لاړه او هغه ټول ښارونه په
کښې شامل وُو په کومو باندې چې اموری بادشاه سيحون
حکومت کړے وو، چې هغۀ په حسبون کښې بادشاهى کړې
وه. ۱۱ په دې کښې د جِلعاديانو، د جسوريانو او د معکيانو
علاقې، د حرمون ټول غر او تر سلکه پورې ټول بسن شامل
وو. ۱۲ په کښې د عوج بادشاهى هم شامله وه کوم چې د
رفائيم آخرى پاتې شوے وو، چې هغۀ په عستارات او ادرعى
باندې بادشاهى کړې وه. موسىٰ دې خلقو له شکست
ورکړے وو او هغوئ يې شړلى وُو. ۱۳ خو بنى اِسرائيلو د
جسور او معکه خلق نۀ وُو شړلى، هغوئ تر اوسه پورې د بنى
اِسرائيلو سره اوسيږى. ۱۴ موسىٰ د ليوى قبيلې له په ميراث
کښې هيڅ زمکه نۀ وه ورکړې، لکه څنګه چې مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ ته فرمائیلی وُو چې لیویانو ته به د خپلې برخې په توګه
هغه قربانئ ملاویږی کومې چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک ته په قربان‌ګاه باندې سوزولے شی.

## د روبین قبیلې ته حواله شوے مُلک

۱۵ موسیٰ د هغه مُلک یوه حِصه د روبین د قبیلې کورَنو له
ورکړې وه چې د هغوئ میراث شی. ۱۶ د هغوئ علاقه د
ارنون وادئ په غاړه د عروعیر پورې او د هغه وادئ تر مینځ
ښار پورې خوره وه او په دې کښې د میدبا نه ګېرچاپېره
ټولې اوچتې علاقې شاملې وې. ۱۷ په دې کښې حسبون او
د اوچتې علاقې ټول ښارونه شامل وُو یعنې دیبون، بامات
بعل، بیت‌بعل معون، ۱۸ یهض، قدیمات، مفعت، ۱۹
قِریَتائم، سبماه او په وادئ کښې په غر باندې ضره‌سحر، ۲۰
بیت‌فعور، د پِسګه غر ښکته علاقې او بیت‌یسیموت. ۲۱ په
دې کښې د اوچتې علاقې ټول ښارونه او د اموری بادشاه
سیحون ټول مُلک شامل وو، اموری بادشاه سیحون په
حسبون بادشاهی کړې وه. موسیٰ هغهٔ له او دغسې د میدیان
دې حکمرانانو له هم شکست ورکړو، ایوی، رِقم، صور، حُور
او رِبع. د سیحون په مُلک کښې دې ټولو بادشاهانو حکومت
کړے وو. ۲۲ کوم خلق چې بنی اِسرائیلو ووژل په هغې
کښې د بعور زوئ بلعام فال کتونکے هم شامل وو. ۲۳
نمرېربواتهٔ طرف ته د اُردن سیند د روبین قبیلې سرحد وو.
دا هغه ښارونه او کلی وُو چې د روبین قبیلې کورَنو له
ورکړے شوی وُو چې د هغوئ خپل میراث شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جاد قبیلې ته حواله شوې علاقه

۲۴ موسیٰ د هغه مُلک یوه حِصه د جاد قبیلې کورَنو له هم
ورکړې وه چې د هغوئ خپل میراث شی. ۲۵ د هغوئ په
علاقه کښې یعزیر او د جِلعاد ټول ښارونه، د عروعیر پورې د
عمونیانو نیم مُلک شامل وو، کوم چې د ربه نمرخاتهٔ طرف
ته دے، ۲۶ د هغوئ مُلک د حسبون نه تر رامت مصفاه او
بطونیم پورې او د محنایم نه تر دبیر سرحد پورې خور وو.
۲۷ د اُردن په وادئ کښې په دې کښې بیت‌هارم، بیت‌نِمره،
سُکات، صفون او د حسبون بادشاه سیحون باقی پاتې
بادشاهی شامله وه. د هغوئ نمرپرېواتهٔ طرف ته سرحد د
ګلیل دریاب پورې د اُردن سیند وو. ۲۸ دا هغه ښارونه او
کلی وُو کوم چې د جاد قبیلې کورَنو له ورکړے شوی وُو
چې د هغوئ خپل میراث شی.

## د نمرخاتهٔ طرف ته منسی قبیلې ته حواله شوې علاقه

۲۹ موسیٰ د هغه مُلک یوه حِصه د منسی نیمې قبیلې کورَنو
له ورکړې وه چې د هغوئ خپل میراث شی. ۳۰ د هغوئ
علاقه تر محنایم پورې خوره وه او په دې کښې ټول بسن، د
بسن بادشاه عوج ټوله بادشاهی او هم داسې په بسن کښې د
یائیر ټول شپېتهٔ کلی هم شامل وُو. ۳۱ په کښې نیم جِلعاد او
هم داسې عستارات او ادرعی، په بسن کښې د عوج په
بادشاهۍ کښې ښارونه هم شامل وُو. دا ټول د منسی زوئ
مکیر اولاد نیمو کورَنو له ورکړے شوی وُو. ۳۲ کله چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ د موآب په مېدانونو کښې وو نو هغهٔ د يريحو نمرخاتهٔ
طرف ته او د اُردن مُلک داسې تقسيم کړو. ۳۳ خو موسیٰ
ليوی قبيلې له په ميراث کښې هيڅ هم ورنهٔ کړل. ځکه چې
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک د هغوئ ميراث دے
لکه څنګه چې هغهٔ ورسره وعده کړې وه.

## د اُردن سيند نمرپرېواتهٔ طرف ته د علاقې تقسيم

۱۴ ۱ دا هغه حِساب کِتاب دے چې د اُردن سيند
نمرپرېواتهٔ طرف ته د کنعان مُلک په بنی اِسرائيلو باندې
څنګه تقسيم شوے وو. اِلیعزر اِمام، د نون زوئ يشوَع او د
بنی اِسرائيلو د قبيلو کورَنو مشرانو دا په خلقو باندې تقسيم
کړو. ۲ لکه څنګه چې مالِک خُدائ موسیٰ له حُکم
ورکړے وو چې د اُردن سيند نمرپرېواتهٔ طرف ته نهه نيمو
قبيلو ته د ميراث د مِلاوېدو دا فېصله دې د پچې په ذريعه
وشی. ۳-۴ موسیٰ د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته مُلک د
مخکښې نه هغه نورو دوه نيمو قبيلو ته حواله کړے وو. د
يوسف اولاد په دوو قبيلو کښې تقسيم وو، منسی او اِفرائيم.
موسیٰ په هغه زمکه کښې ليويانو له هيڅ حِصه ورنهٔ کړه. خو
هغوئ ته د اوسېدو دپاره داسې ښارونه مِلاو شول چې د
هغوئ د څاروو او رَمو دپاره پټی په کښې وُو. ۵ بنی
اِسرائيلو هغه زمکه هم هغه شان تقسيم کړه لکه څنګه چې
مالِک خُدائ موسیٰ له حُکم ورکړے وو.

## د حبرون کالب ته مِلاوېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ یوه ورځ د یهوداه د قبیلې څۀ خلق په جِلجال کښې
یشوَع له راغلل. د هغوئ نه یو کس د یفُنه قنزی زوئ کالب
هغۀ ته وفرمائیل، ”تا ته پته ده چې مالِک خُدائ په قادِس
برنیع کښې د خُدائ پاک بنده موسیٰ ته زما او ستا په حقله
څۀ فرمائیلی وُو. ۷ زۀ د څلوېښتو کالو وم چې کله د
مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ زۀ د قادِس برنیع نه
ولېږلم چې د مُلک معلومات حاصل کړم. نو ما هغۀ له
صحیح خبر راوړو. ۸ کوم سړی چې زما سره تلی وُو نو
هغوئ زمونږ خلق یرول. خو ما په وفادارئ سره د مالِک
خُدائ زما د خُدائ پاک تابعداری وکړه. ۹ په هغه وخت
موسیٰ ما سره دا لوظ وکړو چې ما او زما بچو ته به بېشکه
دا مُلک د میراث په توګه ملاوېږی چې په کوم کښې ما قدم
اېښے وو. ۱۰ خو اوس ګوره، چې د کله نه مالِک خُدائ
موسیٰ ته داسې فرمائیلی دی نو د هغې پینځۀ څلوېښت کاله
وشول. دا هغه وخت وو چې کله بنی اِسرائیل په صحرا کښې
روان وُو او مالِک خُدائ د خپلې وعدې په مطابق تر نن
ورځې پورې زۀ ژوندے ساتلے یم. ما ته وګوره. زۀ د پینځۀ
اتیاو کالو یم ۱۱ او زۀ نن هم هغه شان تکړه یم چې څنګه په
هغه وخت کښې وم چې کله موسیٰ لېږلے وم. زۀ تر اوسه
پورې د جنګ او د باقی نورو کارونو دپاره اوس هم ښۀ تکړه
یم. ۱۲ نو، ما له د غرونو هغه مُلک راکړه چې مالِک خُدائ
په هغه ورځ زما سره د هغې وعده کړې وه په کومه ورځ چې
ما او نورو جاسوسانو خبر راوړو. ما بیا تا ته ووئیل چې هلته
د دېوانو نسل عناقیان د پَخو دېوالونو په لویو لویو ښارونو
کښې وُو. مالِک خُدائ دې زما مل شی او هغوئ به زۀ
وشړم، هم هغه شان لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائیلی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی." ۱۳ یشوَع د یفُنه زویٔ کالب دپاره برکت وغوښتلو او
د حبرون ښار یې ورکړو چې د هغۀ خپل شی. ۱۴ حبرون
تر اوسه پورې د یفُنه قنزی د زویٔ کالب دے، ځکه چې هغۀ
په وفادارئ سره د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک
تابعداری کوله. ۱۵ د حبرون ښار مخکښې د قِریَت‌اربع په
نوم یادېدو، ځکه چې اربع د ټولو نه لوئ عناقے وو. نو بیا په
هغه مُلک کښې جنګونه ختم شول او امن و امان شو.

## د یهوداه قبیلې ته حواله شوې زمکه

۱۵ ۱ د یهوداه قبیلې کورَنو ته د زمکې یوه حِصه مِلاو
شوه چې داسې بیان شوې ده، هغه مُلک په جنوب کښې د
ادوم د سرحد سره د صین صحرا آخری جنوبی سر ته
ورسېدو. ۲ دا جنوبی سرحد د مالګې دریاب د جنوبی سر
نه لاړو، ۳ او په جنوب کښې د لړم درې نه واخله تر صین
پورې تلے وو. دا په جنوب کښې د قادِس برنیع نه تلے وو، د
حصرون نه تېر وو او ادار ته رسېدلے وو او قرقع ته تاو وو،
۴ او عضمون ته تلے وو او د مدیترانی د سمندر ته د
مِصر په سرحد باندې په نِهر باندې تلے وو، سرحد هلته ختم
شوے وو. دا د یهوداه جنوبی سرحد وو. ۵ نمرخاتۀ طرف
ته سرحد یې د مالګې دریاب وو، دا تر هغه خلیج پورې تلے
وو چرته چې د اُردن سیند خالی کیږی. شمالی سرحد د هغه
ځائ نه شروع کېدو، ۶ چې د بیت‌حجلاه پورې خور وو او
د هغه غاړې په شمالی طرف تلے وو چې د هغې نه د اُردن
وادی ښکاریده. بیا دا بوهن کاڼی پورې تلے وو، بوهن د
روبین زوئ وو، ۷ د مصیبت د وادئ نه تر دبیر پورې او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا په شمال کښې د جِلجال طرف ته تاو وو، چې مخ يې د
وادئ جنوبی طرف ته د ادميم درې ته دے. دا د عين‌شمس د
چينو نه عين‌راجل ته تلے وو، ۸ کوم چې د غرۀ جنوبی
طرف ته د هنوم وادئ نه تېر شوے وو چرته چې د يبوسيانو
يروشلم ښار وو. سرحد بيا د هنوم وادئ نمرپرېواتۀ طرف ته
پاس غر ته ختلے وو، چې د رفائيم وادئ شمالی سر سره
دے. ۹ د هغه ځائ نه دا د نفتوح چينو ته او بهر د عِفرون
سره نزدې ښارونو ته تلے وو. دا هلته د بعله يعنې
قِريَت‌يعريم طرف ته تاو وو، ۱۰ چرته چې دا د ادوم د
غرونو مُلک طرف ته د بعله نمرپرېواتۀ طرف ته تاو وو، د
يعريم يعنې کسلون غرۀ شمالی طرف ته، لاندې بيت‌شمس ته
تلے وو او د تمنت نه تېر وو. ۱۱ سرحد بيا د عقرون
شمالی طرف ته غرۀ ته تلے وو، د سکرون طرف ته تاو وو،
د بعله غر نه تېر وو او يبنى‌ايل ته تلے وو. دا د مديترانی د
سمندر سره ختم وو، ۱۲ چې د هغې نه نمرپرېواتۀ طرف ته
د مديترانی سمندر وو. په دې سرحدونو کښې د يهوداه د
قبيلو خلق اوسېدل.

## د کالب د حبرون او دبير فتح کول

۱۳ لکه څنګه چې مالِک خُدائ يشوَع ته حُکم کړے وو، د
يهوداه د علاقې يوه حِصه د يفُنه زوئ کالب له ورکړے شوې
وه. هغۀ ته حبرون مِلاو شو، د هغه ښار نوم قِريَت‌اربع وو او
اربع د عناقيانو پلار نيکۀ وو. ۱۴ کالب د عناقيانو هغه اولاد
د ښار نه وويستلو، چې د سيسى، اخيمان او تلمى قبيلې وې.
۱۵ د هغې ځائ نه هغه لاړو چې د دبير په اوسېدونکو باندې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله وکړی. هغه ښار مخکښې قِریَت‌سِفر بللے شو. ۱۶
کالب وفرمائیل، ”زۀ به خپله لور عکسه هغه سړی له ورکړم
چې وادۀ یې کړی چې کوم سړے د قِریَت‌سِفر په قبضه کولو
کښې کامیاب شی.“ ۱۷ د کالب ورارۀ او د قنز زوئ
عتنی‌ایل هغه ښار قبضه کړو، نو کالب خپله عکسه لور هغۀ
ته وادۀ کړه. ۱۸ د وادۀ په ورځ هغې عتنی‌ایل دې ته رضا
کولو چې د هغې د پلار نه یو پټے وغواړی. هغه د خپل خر نه
کوزه شوه او کالب ترې نه تپوس وکړو چې، ”تۀ څۀ
غواړې.“ ۱۹ هغې ورته ووئیل، ”زما سره ښۀ وکړه، زۀ د
اوبو یو څو چینې غواړم. تا چې ما له کومه زمکه راکړې ده
هغه په اوچ مُلک کښې ده.“ نو کالب هغې له بره او ښکته
چینې ورکړې.

## د یهوداه ښارونه

۲۰ دا هغه زمکه وه چې د یهوداه قبیلې کورَنو ته مِلاو شوه
چې د هغوئ میراث شی. ۲۱ په جنوب کښې په آخری سر
کښې دا ښارونه د هغوئ وُو، کوم چې د ادوم سرحد سره
نزدې وُو، هغه دا وُو، قبضئیل، عدر، یجور، ۲۲ قینه،
دیمونه، عدعده، ۲۳ قادِس، حصور، اِتنان، ۲۴ زیف، طلم،
بعلوت، ۲۵ حصورحدته، قریوت‌حصرون یعنې حصور،
۲۶ اِمام، سمع، مولاده، ۲۷ حصارجده، حشمون،
بیت‌فِلِط، ۲۸ حصارسعول، بیرسبع، بزیوتیاه، ۲۹ بعله،
عییم، عضم، ۳۰ التولد، کسیل، حُرمه، ۳۱ صِقلاج، مدمنه،
سنسناه، ۳۲ لباوت، سِلحیم، عین او رِمون، دا ټول
نهۀویشت ښارونه وُو، چې د دې نه ګېرچاپېره کلی هم وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ د غرونو په لمنو کښې دا ښارونه وُو، اِستال، صُرعا،
اسنا، ۳۴ زنوح، عین‌جنیم، تفوح، عینام، ۳۵ یرموت،
عدولام، شوکه، عزیقه، ۳۶ شعریم، عدیتیم، جدیره او
جدیروتیان، دا څوارلس ښارونه وُو چې د هغې نه ګېرچاپېره
کلی وُو. ۳۷ هلته دا ښارونه هم وُو، ضنان، حداشه،
مجدل‌جد، ۳۸ دلعان، مصفاه، یقتی‌اېل، ۳۹ لکیس،
بُصقت، عجلون، ۴۰ کبون، لحماس، کِتلیس، ۴۱
جدیروت، بیت‌دجون، نعمه او مقیده، دا شپاړس ښارونه وُو،
چې د دې نه ګېرچاپېره کلی وُو. ۴۲ هلته دا ښارونه هم وُو،
لِبناه، عتر، عسن، ۴۳ یفتاح، اسنا، نصیب، ۴۴ قعیله،
اکزیب او مریسه، یعنې نهٔ ښارونه، چې ګېرچاپېره ترې نه
کلی هم وُو. ۴۵ هلته د عقرون د ښارونو او د کلو سره وُو،
۴۶ او د عقرون نه د مدیترانی د سمندر پورې، ټول د اشدود
سره نزدې ښارونه او کلی. ۴۷ هلته اشدود او غزه، د خپلو
وړو ښارونو او کلو سره وُو، چې دا د مِصر په سرحد باندې
نِهر او د مدیترانی د سمندر غاړې ته رسېدلی وُو. ۴۸ د
غرونو په مُلک کښې دا وُو، سمیر، یتیر، شوکه، ۴۹ دناه،
قِریَت‌سِفر یعنې دبیر، ۵۰ عناب، استموع، عنیم، ۵۱ جشن،
حولون او جلوه، یوولس ښارونه، چې د دې نه ګېرچاپېره
کلی وُو. ۵۲ هلته عرب، دومه، اشعان، ۵۳ ینوم، بیت‌تفوح،
افیقه، ۵۴ حُمطه، حبرون او صیعور وُو، نهٔ ښارونه، چې
ګېرچاپېره ترې نه کلی هم وُو. ۵۵ هلته دا ښارونه وُو،
معون، کرمل، زیف، یُوطه، ۵۶ یزرعیل، یقدِعام، زنوح، ۵۷
قین، جبعه او تمنت، یعنې لس ښارونه، چې ګېرچاپېره ترې
نه کلی هم وُو. ۵۸ هلته حلحُول، بیت‌صور، جدور، ۵۹
معرات، بیت‌عنات او التقون وُو، شپږ ښارونه، چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګېرچاپېره ترې نه کلی هم وُو. ۶۰ هلته قِريَت‌بعل يعنې،
قِريَت‌يعريم او ربه وُو، دوه ښارونه، چې ګېرچاپېره ترې نه
کلی هم وُو. ۶۱ په صحرا کښې بيت‌اراباه، مدين، سکاکه،
۶۲ نِبسان، د مالګې ښار، او عين‌جدی وُو، شپږ ښارونه چې
ګېرچاپېره ترې نه کلی هم وُو. ۶۳ خو د يهوداه خلق د دې
قابل نۀ وُو چې هغه يبوسيان وشړی کوم يبوسيان چې په
يروشلم کښې اوسېدل. يبوسيان تر اوسه پورې هلته د يهوداه
د خلقو سره اوسيږی.

## اِفرائيم او د نمرپرېواتۀ طرف منسی ته علاقه حواله کېدل

۱۶ ۱ د يوسف اولاد ته چې کوم مُلک حواله شوے وو
د هغې جنوبی سرحد د يريحو سره نزدې د اُردن نه شروع
شوے وو، دا هغه ځائ وو چې د يريحو چينو نمرخاتۀ طرف
ته وو او صحرا ته تلے وو. دا د يريحو نه تلے وو او تر
بيت‌ايل پورې د غرونو مُلک ته ننوتلے وو. ۲ د بيت‌ايل نه
دا لوز ته تلے وو او عطارات ادار ته رسېدلے وو، چرته چې
ارکيان اوسېدل. ۳ بيا دا د لانديني بيت‌حورون پورې،
نمرپرېواتۀ طرف ته د يفليطيانو علاقې ته تلے وو. دا د هغه
ځائ نه جزر ته تلے وو او د مديترانی په سمندر باندې ختم
وو. ۴ دا زمکه د يوسف اولاد، د اِفرائيم قبيلو او د
نمرپرېواتۀ طرف ته منسی ته مِلاو شوه چې د هغوئ خپل
ميراث شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اِفرائیم

۵ دا د اِفرائیم د قبیلې د کورَنو علاقه وه، د هغوئ سرحد
نمرخاتهٔ طرف ته د عطارات ادار نه پاسنی بیت‌حورون ته
تلې ووه. ۶ او د هغه ځائ نه د مدیترانی سمندر ته تلې
وو. مکمتاه د هغوئ په شمالی طرف باندې وو. هلته نمرخاتهٔ
طرف ته سرحد د تانت سیلا طرف ته تاو وو او د ینوحاه
نمرخاتهٔ طرف ته تلې وو. ۷ بیا دا د ینوحاه نه لاندې
عطارات او نعراه ته تلې وو، چې یریحو ته رسېدلې وو او د
اُردن سره ختم وو. ۸ نمرپرېواتهٔ طرف ته سرحد د تفوح
نه د قاناه نِهر ته تلې وو او د مدیترانی سمندر سره ختم وو.
دا هغه مُلک وو چې د اِفرائیم د قبیلې کورَنو ته ورکړې
شوې وو چې د هغوئ میراث شی، ۹ چې په کښې یو څو
هغه واړهٔ ښارونه او کلی هم شامل وُو کوم چې د منسی په
سرحدونو کښې دننه وُو، خو د اِفرائیم قبیلې له ورکړې شوی
وُو. ۱۰ خو هغوئ هغه کنعانیان ونهٔ شړل کوم چې په جزر
کښې اوسېدل، نو په دې وجه کنعانیان تر اوسه پورې د
اِفرائیمیانو سره اوسېږی، خو د کنعانیانو نه یې په زور کار
اخلی.

## نمرپرېواتهٔ طرف ته منسی

۱۷ ۱ د نمرپرېواتهٔ طرف ته د اُردن یوه برخه د یوسف
مشر زوئ منسی اولاد څهٔ کورَنو ته مِلاو شوې وه. د جِلعاد
پلار مکیر، چې د منسی مشر زوئ وو هغه یو تکړه فوجی وو،
نو په دې وجه جِلعاد او د نمرخاتهٔ طرف ته بسن هغهٔ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حواله شوی وُو. ۲ د اُردن نمرپرېواتهٔ طرف ته زمکه د
منسی دې باقی پاتې کورَنو ته حواله شوې وه يعنې ابيعزر،
حالق، اسری‌ایل، شِکم، حِفر او سميدع. دا د يوسف زوئ
منسی نران اولاد وو او هغوئ د خپلو کورَنو مشران وُو. ۳
د حِفر زوئ صِلافحاد، چې دې زوئ د جِلعاد، جِلعاد زوئ د
مکير او مکير زوئ د منسی وو، د صِلافحاد زامن نهٔ وُو، خو
صِرف لوڼه يې وې. د هغوئ نومونه محلاه، نوعاه، حجلاه،
مِلکاه او تِرضاه وُو. ۴ هغوئ اِلیعزر اِمام، د نون زوئ
يشوَع او مشرانو له لاړې او ورته يې ووئيل، ”مالِک خُدائ
موسیٰ له حُکم ورکړو چې مونږ له او داسې زمونږ نرانو
خپلوانو له هم د زمکې يوه برخه راکړی چې زمونږ ميراث
شی.“ نو چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو هغهٔ ورله د
ترونو سره ميراث ورکړو. ۵ نو په دې وجه منسی ته د
اُردن نمرخاتهٔ طرف د جِلعاد او بسن نه علاوه لس نورې
برخې مِلاو شوې، ۶ ځکه چې د منسی قبيلې لوڼو ته د
خپلو زامنو سره ميراث مِلاو شو. نو په دې وجه د جِلعاد
مُلک د منسی د باقی پاتې اولاد ميراث شو. ۷ د منسی
علاقه د آشر نه د شِکم نمرخاتهٔ طرف ته تر مکمتاه پورې
ورسيده. بيا هغه سرحد د جنوب طرف ته لاړو چې په دې
کښې د تفوح خلق شامل شی. ۸ د تفوح نه ګېرچاپېره
علاقه د منسی وه، خو په سرحد باندې د تفوح ښار، د اِفرائيم
د اولاد وو. ۹ بيا سرحد لاندې د قاناه نِهر ته تلے وو. د نِهر
جنوبی طرف ته ښارونه د اِفرائيم وُو، اګر چې دا د منسی په
علاقه کښې وُو. د منسی سرحد د نِهر شمالی غاړې سره تلے
وو او د مديترانی سمندر سره ختم وو. ۱۰ اِفرائيم جنوب
طرف ته وو او منسی د شمال طرف ته وو او د نمرپرېواتهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرحد يې د مديترانى سمندر وو. آشر شمالى نمرپرېواتۀ
طرف ته وو او يساکار شمالى نمرخاتۀ طرف ته وو. ١١ د
يساکار او آشر په علاقو کښې، بيت‌شان او ابليعام د منسى
وُو او تر دور پورې چې د سمندر په غاړه دے او د هغې نه
ګېرچاپېره ښارونه هم د منسى وُو، عين دور، تعنک، مِجدو او
د دې نه ګېرچاپېره ښارونه. ١٢ د منسى خلقو په دې
ښارونو کښې اوسېدونکى خلق نۀ شول شړلے، نو په دې
وجه کنعانيان هلته په زور اوسېدل. ١٣ اګر چې کله بنى
اِسرائيليان تکړه هم شول، نو هغوئ بيا هم ټول کنعانيان ونۀ
شړل، خو کنعانيان يې دې ته مجبور کړل چې په زبردستۍ
ترې نه کار واخلى.

## د اِفرائيم او د نمرپرېواتۀ طرف ته منسى د نورې زمکې غوښتل

١٤ د يوسف اولاد يشوَع ته ووئيل، "تا مونږ له د مُلک
صِرف يوه برخه ولې راکړې ده چې زمونږ ميراث شى؟ مونږ
ډېر زيات خلق يُو ځکه چې مالِک خُدائ مونږ له برکت
راکړے دے." ١٥ يشوَع ورته وفرمائيل، "کۀ تاسو ډېر زيات
يئ او د اِفرائيم د غرونو مُلک ستاسو دپاره کافى نۀ وى، نو
بيا ځنګلو ته لاړ شئ او د فرزيانو او رفائيم په مُلک کښې د
خپلو ځانونو دپاره زمکه صفا کړئ." ١٦ د يوسف قبيلې
ورته ووئيل، "د غرونو مُلک هم زمونږ دپاره کافى نۀ دے، او
د ميدانونو او د بيت‌شان او د دې نه ګېرچاپېره ښارونو او د
يزرعيل په وادۍ کښې اوسېدونکى ټول کنعانيان د اوسپنې
جنګى ګاډۍ لرى." ١٧ نو يشوَع د اِفرائيم او د نمرپرېواتۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف ته منسی قبیلو ته ووئیل چې، "په حقیقت کښې تاسو
ډېر زیات یئ او تاسو ډېر تکړه شوی یئ. تاسو ته به د یوې
برخې نه زیاتې برخې ملاوېږی. ۱۸ د غرونو مُلک به ستاسو
شی، اګر چې دا یو ځنګل دے، تاسو به دا صفا کړئ او د یو
سر نه تر بل سَره پورې به یې ونیسئ. کۀ کنعانیان هر څومره
تکړه هم وی او ورسره د اوسپنې جنګی ګاډی وی خو تاسو
به بیا هم هغوئ وشړئ."

## پاتې شوې زمکه تقسیمول

۱۸ ۱ کله چې هغوئ هغه مُلک فتح کړو نو د هغې نه
پس، د بنی اِسرائیلو ټول قوم په سیلا کښې راغونډ شو او د
مالِک خُدائ د حضور مقدسه خېمه یې ودروله. ۲ د بنی
اِسرائیلو اووۀ قبیلې تر اوسه پورې داسې وې چې هغوئ ته په
هغه مُلک کښې حِصه نۀ وه حواله شوې. ۳ نو یشوَع بنی
اِسرائیلو ته وفرمائیل، "تاسو به ترڅو پورې دومره اِنتظار
کوئ چې تاسو لاړ شئ او هغه مُلک ونیسئ کوم چې مالِک
خُدائ ستاسو د پلار نیکۀ خُدائ پاک تاسو له درکړے دے؟
۴ تاسو به د هرې قبیلې نه درې سړی خوښ کړئ او زۀ به
هغوئ ولېږم چې هغه ټوله علاقه وګوری او د دې میراث د
تقسیمولو تفصیل راوړی او بیا به هغوئ ما له واپس راشی.
۵ هغه مُلک به په هغوئ باندې په اوو برخو کښې تقسیم
شی، یهوداه به د هغې په جنوبی حِصه کښې ایسار شی او
یوسف به د هغې په شمالی حِصه کښې ایسار شی. ۶ د دې
اوو حِصو د تقسیم یو تفصیل ولیکئ او ما له یې راوړئ. بیا
به زۀ ستاسو دپاره د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې د مشورې دپاره ستاسو سره پچه واچوم. ٧ خو
ليويانو ته به ستاسو نورو قبيلو سره د زمکې ميراث نۀ
ملاويږى، ځکه چې د هغوئ برخه دا ده چې د مالِک خُدائ د
اِمامانو په توګه خِدمت وکړى. او د جاد، روبين او د منسى
قبيلو ته به نوره زمکه نۀ ملاويږى ځکه چې د مخکښې نه
هغوئ ته خپله زمکه د اُردن نمرخاتۀ طرف ته مِلاو شوې ده،
کومه چې د مالِک خُدائ خِدمت کوونکى موسیٰ هغوئ له
ورکړې ده.“ ٨ کله چې هغه سړى د مُلک کتلو دپاره روان
شول نو يشوَع ورته وفرمائيل چې، ”داسې به وکړئ، په هغه
ټول مُلک باندې وګرځئ او تفصيل يې جوړ کړئ او بيا ما له
واپس راشئ. او بيا به زۀ دلته په سيلا کښې د مالِک خُدائ په
وړاندې د مشورې دپاره تاسو سره پچه واچوم.“ ٩ نو هغه
سړى په ټول مُلک باندې وګرځېدل او هغوئ د دې بيان
وليکلو چې په اوو حِصو کښې به يې څنګه تقسيموى او د
ښارونو تفصيل يې وليکلو. بيا هغوئ واپس يشوَع له د سيلا
کېمپ ته لاړل. ١٠ نو يشوَع د هغوئ دپاره په سيلا کښې پچه
واچوله چې د مالِک خُدائ سره مشوره وکړى او د بنى
اِسرائيلو هرې پاتې شوې قبيلې ته يې د زمکې خپله خپله برخه
حواله کړه.

## بنيامين ته حواله شوې علاقه

١١ اول پچه د بنيامين د قبيلې راوتله. د هغوئ زمکه د
يهوداه او يوسف قبيلو په مينځ کښې پرته وه. ١٢ په شمال
کښې د هغوئ سرحد د اُردن سره شروع کيدو او بيا د يريحو
شمال طرف ته بره ختلے وو او نمر پرېواتۀ طرف ته د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیت‌آون په صحرا کښې د غرونو په مُلک کښې تلے وو. ۱۳
هغه سرحد بیا بره د لوز جنوبی طرف ته تلے وو چې د دې
بیت‌ایل نوم هم وو، بیا عطارات ادار ته کوز شوے وو چې د
بیت‌حورون په جنوب طرف په غر باندې وو. ۱۴ بیا سرحد
په یو بل طرف باندې تلے وو، د دې غرۀ د نمرپرېواتۀ طرف
نه جنوبی طرف ته تاو وو او قِریَت‌بعل ته تلے وو چې بل نوم
یې قِریَت‌یعریم دے، کوم ځائ چې د یهوداه د قبیلې دے. دا
د نمرپرېواتۀ طرف ته سرحد وو. ۱۵ جنوبی سرحد یې د
قِریَت‌یعریم په غاړه شروع شوے وو او د نفتوح چینو ته تلے
وو. ۱۶ بیا دا لاندې د غرۀ لمنو ته کوز شوے وو چې د
هنوم وادی ترې نه ښکارېده، دا د رفائیم وادۍ شمالی سر
سره دے. بیا دا د هنوم په وادۍ کښې جنوبی طرف ته، د
یبوسیانو په جنوبی غاړه د عین‌راجل طرف ته تلے وو. ۱۷
بیا دا د عین‌شمس شمالی طرف ته او بیا جلیلوت ته تاو وو،
چې د ادمیم درې ته مخامخ دے. سرحد بیا لاندې د بوهن
کاڼی ته تلے وو، بوهن د روبین زوئ وو. ۱۸ او د هغه
غاړې شمالی طرف ته تېر وو چې د اُردن وادی ترې نه
ښکارېده. دا لاندې وادۍ ته ورننوتلے وو، ۱۹ د بیت‌حجلاه
شمالی غاړې نه تېر وو او د مالګې دریاب د شمالی خولې
سره ختم وو، په کوم ځائ کښې چې د اُردن سیند اوبۀ
ورغورزېږی. دا جنوبی سرحد وو. ۲۰ اُردن یې د نمرخاتۀ
طرف ته سرحد وو. دا د هغه مُلک سرحدونه وُو کوم چې د
بنیامین قبیلې کورَنو ته مِلاو شُو چې د هغوئ خپل میراث
شی. ۲۱ د بنیامین د قوم د قبیلو ښارونه دا وُو، یریحو،
بیت‌حجلاه، عمیق قصیص، ۲۲ بیت‌اراباه، صمریم،
بیت‌ایل، ۲۳ عویم، فاره، عفره، ۲۴ کفرالعمونی، عُفنی او
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جبعه، دا دولس ښارونه وُو چې ګېرچاپېره ترې نه کلی هم
وُو. ۲۵ هلته جبعون، راما، بیروت، ۲۶ مصفاه، کفیره،
موضه، ۲۷ رِقم، ارفیل، تراله، ۲۸ ضِلع، الف، یبوس یعنې
یروشلم، جبعه او قِریَت‌یعریم وُو، دا ټول څوارلس ښارونه وُو
چې ګېرچاپېره ترې نه کلی هم وُو. دا هغه مُلک دے کوم چې
د بنیامین قبیلې کورَنو ته مِلاو شو چې د هغوئ میراث شی.

## شمعون ته حواله شوې علاقه

۱۹ ۱ دویمه پچه د شمعون قبیلې د کورَنو راووتله. دا
علاقه د یهوداه قبیلې په علاقه کښې دننه وه. ۲ په دې کښې
بیرسبع یا شیبا، مولاده، ۳ حصارسعول، بالاه، عضم، ۴
التولد، بیت‌ایل، حُرمه، ۵ صِقلاج، بیت‌مرکبوت،
حصارسوسه، ۶ بیت‌لباوت او ساروحن شامل وُو، دا
دیارلس ښارونه وُو چې ګېرچاپېره ترې کلی وُو. ۷ هلته
عین، رِمون، عتر، عسن هم وُو، دا څلور ښارونه وُو، چې
ګېرچاپېره ترې نه کلی وُو. ۸ په دې کښې هغه ټول کلی
شامل وُو چې تر لرې په جنوب کښې د بعلات بیر یا راما
نجب پورې ښارونه ترې نه تاو وو. دا هغه مُلک وو چې د
شمعون قبیلې کورَنو ته مِلاو شوے وو چې د هغوئ خپل
میراث شی. ۹ د یهوداه میراث د ضرورت نه زیات وو نو
په دې وجه د هغه علاقې یوه برخه د شمعون قبیلې له
ورکړے شوې وه.

## زبولون ته حواله شوې علاقه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ دریمه پچه د زبولون قبیلې د کورَنو راووتله. هغوئ ته
چې کومه زمکه مِلاو شوه هغه سارید ته رسېدلې وه. ۱۱ د
مُلک سرحد د هغه ځائ نمرپرېواتۀ طرف مرعله ته تلے وو،
چې دباست او د یقنِعام نمرخاتۀ طرف ته د نِهر سره لګېدو.
۱۲ د سارید په بله غاړه دا نمرخاتۀ طرف ته د کِسلوت تبور
سرحد ته او بیا دبرت او یفیع ته تلے وو. ۱۳ دا د هغه ځائ
نه نمرخاتۀ په طرف جات‌حِفر او عته قاضین ته روان وو او
د رِمون په لاره نیعه ته تاو وو. ۱۴ په شمال کښې سرحد د
حناتون طرف ته تاو وو او د اِفتاح‌اېل وادئ سره ختم وو.
۱۵ په دې کښې قطات، نحلال، سِمرون، اِداله او بیت‌لحم
شامل وُو، دا ټول دولس ښارونه وُو، چې ګېرچاپېره ترې نه
کلی وُو. ۱۶ دا ښارونه او د دې کلی په هغه مُلک کښې وُو
کوم چې د زبولون قبیلې ته مِلاو شُو چې خپل میراث یې
شی.

## د یساکار قبیلې ته حواله شوې علاقه

۱۷ په څلورم ځل پچه د یساکار قبیلې د کورَنو راووتله. ۱۸
د دې په علاقه کښې، یزرعیل، کسولوت، شونیم، ۱۹
حفارئیم، شِیون، اناخرات، ۲۰ ربیت، قِسیون، اِبض، ۲۱
ریمت، عین‌جنیم، عین‌حده او بیت‌فصیص شامل وُو. ۲۲ دا
سرحد د تبور، شخصومه او بیت‌شمس سره هم لګېدو او د
اُردن سره ختم وو. په دې کښې شپاړس ښارونه شامل وُو،
چې ګېرچاپېره ترې نه کلی وُو. ۲۳ دا ښارونه او کلی په هغه
مُلک کښې وُو کوم چې د یساکار قبیلې ته مِلاو شُو چې د
هغوئ میراث شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د آشر قبیلې ته حواله شوې علاقه

۲۴ په پینځم ځل پچه د آشر قبیلې د کورَنو راووتله. ۲۵ په
دې کښې د حلقت، حلی، بطن، اکشاف، ۲۶ المُلک، عماد
او مِسال علاقې شاملې وې. په نمرپرېواتۀ طرف باندې دا د
کرمل او د سیحور لِبنات سره لګېدو. ۲۷ چرته چې دا
نمرخاتۀ طرف ته تاو وو، نو د دې سرحد بیت‌دجون ته تلے
وو او د بیت‌عمیق او نعی‌ایل د شمال په لاره دا زبولون او د
اِفتاح‌ایل وادئ سره لګېدلو. دا په شمال کښې کابول ته روان
وو، ۲۸ عبرون، رِحوب، حمون، قاناه او تر صیدا پورې
تلے وو. ۲۹ سرحد بیا د راما طرف ته تاو وو او د پَخو
دېوالونو ښار صور ته رسېدلے وو، بیا دا حوسه ته تاو وو او
د مدیترانی سمندر سره ختم وو. په دې کښې مهلاب، اکزیب،
۳۰ عُمه، افیق او رِحوب شامل وُو، دا دوویشت ښارونه
وُو، چې ګېرچاپېره ترې نه کلی وُو. ۳۱ دا ښارونه او د دې
کلی په هغه مُلک کښې وُو کوم چې د آشر قبیلې کورَنو ته
مِلاو شو چې خپل میراث یې شی.

## د نفتالی قبیلې ته حواله شوې علاقه

۳۲ په شپږم ځل پچه د نفتالی قبیلې د کورَنو راووتله. ۳۳ د
دې سرحد د حلف نه د ضعننیم د څېړئ ونې ته تلے وو، دا
ادامی‌نقب او یبنی‌ایل نه تر لقُوم پورې روان وو او دا د اُردن
سره ختم وو. ۳۴ دا سرحد هلته نمرپرېواتۀ طرف ته ازنوت
تبور ته تاو وو او د هلته نه حُقوق ته تاو وو او په جنوب کښې
د زبولون سره، نمرپرېواتۀ طرف ته د آشر سره او نمرخاتۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف ته د اُردن سره لګېدو. ۳۵ د پَخو دېوالونو ښارونه دا
وُو، صدیم، صیر، حمات، رقت، کنرت، ۳۶ ادامه، راما،
حصور، ۳۷ قادِس، ادرعی، عین‌حصور، ۳۸ ارون،
مجدل‌اېل، حُریم، بیت‌عنات او بیت‌شمس، دا نولس ښارونه
وُو، چې ګېرچاپېره ترې نه کلی وُو. ۳۹ دا ښارونه او د دې
کلی په هغه مُلک کښې وُو کوم چې د نفتالی قبیلې کورَنو ته
مِلاو شوی وُو چې د هغوئ میراث شی.

## د دان قبیلې ته حواله شوې علاقه

۴۰ په اوؤم ځل پچه د دان قبیلې د کورَنو راووتله. ۴۱ په
هغې کښې دا علاقې شاملې وې، صُرعا، اِستال، عیرشمس،
۴۲ شعلبین، ایالون، اِتلاه، ۴۳ ایلون، تمنت، عقرون، ۴۴
الِتقیه، جبتون، بعلات، ۴۵ یهود، بنی‌برق، جات رِمون، ۴۶
مے‌یرقون، رقون او داسې د یافا نه ګېرچاپېره علاقه هم. ۴۷
کله چې د دان د خلقو نه زمکه لاړه، نو هغوئ لشم ته لاړل او
حمله یې پرې وکړه. هغه یې قبضه کړو، د دې خلق یې ووژل
او په مُلک باندې یې خپله دعویٰ وکړه. هغوئ هلته اوسېدل
او د هغه ښار نوم یې د لشم نه دان ته بدل کړو، یعني د خپل
پلار نیکهٔ نوم دان یې ورباندې کېښودو. ۴۸ دا ښارونه او د
دې کلی په هغه مُلک کښې وُو کوم چې د دان قبیلې کورَنو ته
مِلاو شوی وُو چې خپل میراث یې شی.

## د آخری زمکې حواله کېدل

۴۹ کله چې بنی اِسرائیلو د زمکې تقسیمول ختم کړل، نو
هغوئ د نون زوئ یشوَع له د زمکې یوه حِصه ورکړه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ خپل میراث شی. ۵۰ لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم
کړے وو، هغوئ یشوَع له هغه ښار ورکړو چې کوم یې
غوښتے وو، یعنې د غرونو په مُلک اِفرائیم کښې د تمنت‌سِرح
ښار هغهٔ بیا جوړ کړو او هغه په کښې اوسېدو. ۵۱ اِلیعزر
اِمام، د نون زوئ یشوَع، د بنی اِسرائیلو د کورَنو مشرانو د
زمکې دا برخې د پچې په ذریعه حواله کړې او په سیلا کښې
یې د مالِک خُدائ سره د مشورې په مطابق د مالِک خُدائ د
حضور مقدسې خیمې د دروازې په خولهٔ کښې داسې وکړل،
نو په دې طریقه هغوئ د زمکې تقسیمول ختم کړل.

## د پناه ښارونه

۲۰ ۱ نو مالِک خُدائ یشوَع ته وفرمائیل ۲ چې، ”بنی
اِسرائیلو ته ووایه، د پناه دپاره ښارونه خوښ کړئ لکه څنګه
چې ما موسیٰ له حُکم ورکړے وو. ۳ کله چې څوک په
غلطئ سره یو کس ووژنی نو هغه کس هغه ځائ ته تښتېدے
شی چې د بدل اخستونکو نه په امان کښې وی. ۴ نو هغه
کس دې د دې ښارونو نه یو ښار ته وتښتی او د ښار د
دروازې سره د جرګې ځائ ته دې لاړ شی او چې څهٔ شوی
وُو نو هغه دې مشرانو ته بیان کړی. نو بیا به هغه کس له
اجازت ورکړی چې ښار ته ورننوځی او د اوسېدو دپاره به یو
ځائ ورکړی، نو هغه به هلته اوسېږی. ۵ کهٔ هغه کس هلته
هم ورپسې لاړ شی چې کوم بدل اخستل غواړی، نو د هغه
ښار خلق دې هغوئ هیڅکله هغهٔ ته نهٔ حواله کوی. د ښار
خلق به یې خامخا بچ کوی ځکه هغهٔ به قصداً نهٔ بلکې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غلطئ سره کس وژلے وی. ۶ هغه به تر هغې پورې په هغه
ښار کښې ایسار وی چې تر کومې پورې هغه مشر اِمام
ژوندے وی او د هغهٔ سره عوامی عدالت وشی. بیا دې هغه
په خپل ښار کښې کور ته واپس لاړ شی، د کوم نه چې هغه
راتښتېدلے وی." ۷ نو هغوئ د اُردن نمرپرېواتهٔ طرف ته د
نفتالی غرونو په مُلک کښې د ګلیل قادِس خوښ کړو، د
اِفرائیم غرونو په مُلک کښې شِکم، او د یهوداه غرونو په مُلک
کښې یې حبرون خوښ کړو. ۸ هغوئ د اُردن نمرخاتهٔ
طرف ته، د یریحو نمرخاتهٔ طرف ته د صحرا په اوچت ځائ
باندې او د روبین په علاقه کښې بصر خوښ کړو، د جاد په
علاقه جِلعاد کښې رامات، د منسی په علاقه کښې او په بسن
کښې یې جولان خوښ کړو. ۹ دا د ټولو بنی اِسرائیلو او د
پردی مُلک هغه ټولو مسافرو دپاره د پناه ښارونه وُو کوم
مسافر چې د هغوئ سره اوسېدل. هر چا به چې هم په غلطئ
سره یو کس وژلے وو نو هغهٔ ته به د هغه کس نه په هغه
ښارونو کښې پناه مِلاوېده چا به چې بدل اخستل غوښتل،
چې ترڅو پورې په هغهٔ باندې په عوامی عدالت کښې فیصله
نهٔ وه شوې نو هیڅ څوک به نهٔ شول وژلے.

## د لیویانو ښارونه

۲۱ ۱ د لیوی قبیلې د کورَنو مشران اِلیعزر اِمام، د نون
زوئ یشوَع او د ټولو بنی اِسرائیلو د قبیلو مشرانو له لاړل.
۲ هلته د کنعان په مُلک سیلا کښې مشرانو هغوئ ته
ووئیل، "مالِک خُدائ د موسیٰ په ذریعه حُکم کړے دے چې
مونږ له به د اوسېدو دپاره ښارونه راکولے شی او داسې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي نه ګېرچاپېره زمونږ د ښاروو دپاره به د څرن زمکه
راکولے شى.“ ۳ نو د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق بنى
اِسرائيلو د خپلو علاقو نه ليويانو له خاص ښارونه او د څرن
زمکې ورکړې. ۴ وړومبى ښارونه د ليوى خاندان د قُهات
قبيلو ته حواله کړے شول. هغه خاندان کوم چې د هارون
اِمام اولاد وُو هغوئ ته د يهوداه، شمعون او بنيامين د علاقو
نه ديارلس ښارونه حواله کړے شول. ۵ د قُهات باقى پاتې
قبيلې ته د اِفرائيم، دان او نمړېړيواتۀ طرف ته منسى د علاقو
نه لس ښارونه حواله کړے شول. ۶ د جيرسون قبيلې ته د
يساکار، آشر، نفتالى او نمرخاتۀ طرف ته منسى د علاقو نه
ديارلس ښارونه حواله کړے شول. ۷ د مرارى قبيلې
کورَنو ته د روبين، جاد او زبولون علاقو نه دولس ښارونه
حواله کړے شول. ۸ بنى اِسرائيلو د پچې په ذريعه دا
ښارونه او د دې د څرن زمکې ليويانو ته حواله کړې، هم هغه
شان چې څنګه مالِک خُدائ د موسىٰ په ذريعه حُکم کړے
وو. ۹ دا د هغه ښارونو نومونه دى کوم چې د يهوداه او
شمعون د علاقو نه ورکړے شوى وُو، ۱۰ دا د هارون اولاد
له ورکړے شوى وُو چې هغوئ د قُهات قبيله وه، چې هغوئ
د ليويانو اولاد وو، ځکه چې اول هغوئ ته علاقه حواله کولے
شوه. ۱۱ هغوئ له د قِريَتاربع ښار ورکړے شو (اربع د
عناق پلار وو)، اربع اوس حبرون بللے شى، دا د يهوداه د
غرونو په مُلک کښې دے، د دې سره د دې نه ګېرچاپېره د
څرن زمکه هم ورکړے شوه. ۱۲ خو د هغه ښار پټى او
نزدې کلى د مخکښې نه د يفُنه زوئ کالب له په ميراث کښې
ورکړے شوى وُو. ۱۳ دا ښارونه سره د څرن د زمکې د
هارون اِمام اولاد ته حواله شوى وُو، حبرون کوم چې د پناه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار وو، او لِبناه، ۱۴ يتير، استموع، ۱۵ حولون، دبير، ۱۶
عين، يُوطه او بيت‌شمس، چې د دې سره د څرن زمکې هم
وې، نهۀ ښارونه د يهوداه او شمعون دواړو قبيلو نه ورته
حواله کړے شوی وُو. ۱۷ د بنيامين د علاقې نه هغوئ له
څلور ښارونه ورکړے شوی وُو، جبعون، جبعه، ۱۸ عنتوت
او د علمون ښارونه، چې د دې سره د څرن زمکې هم وې.
۱۹ ټول ديارلس ښارونه، سره د څرن د زمکې د هارون
اولاد اِمامانو له ورکړے شوی وُو. ۲۰ د ليوی قبيلې د قُهات
قبيلې نورو کورَنو ته د اِفرائيم د علاقې نه څۀ ښارونه حواله
کړے شوی وُو. ۲۱ هغوئ له څلور ښارونه ورکړے شوی
وُو، شِکم او د اِفرائيم د غرونو په مُلک کښې د دې د څرن
زمکه (شِکم د پناه يو ښار وو)، جزر، ۲۲ قِبضيم او د
بيت‌حورون ښارونه، چې د څرن زمکې د دې سره وې. ۲۳
د دان د علاقې نه هغوئ له څلور ښارونه ورکړے شوی وُو،
التِقيه، جبتون، ۲۴ ايالون او جات رِمون، چې د څرن زمکې
ورسره وې. ۲۵ د نمرپړېواتۀ طرف ته منسی د علاقې نه
هغوئ له دوه ښارونه ورکړے شوی وُو، تعنک او جات
رِمون، چې د څرن زمکې ورسره وې. ۲۶ د قُهات قبيلې
کورَنو ته ټول لس ښارونه مِلاو شول، چې د څرن زمکې
ورسره وې. ۲۷ د ليوی قوم يوې بلې قبيلې جيرسون ته د
نمرخاتۀ په طرف منسی د علاقې نه دوه ښارونه مِلاو شول
يعنې په بسن کښې جولان، چې د پناه يو ښار وو او بعستراه،
چې د څرن زمکې ورسره وې. ۲۸ د يساکار د علاقې نه
هغوئ ته څلور ښارونه مِلاو شول، قِسيون، دبرت، ۲۹
يرموت او عين‌جنيم، چې د څرن زمکې ورسره وې. ۳۰ د
آشر د علاقې نه هغوئ ته څلور ښارونه مِلاو شول، مِسال،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبدون، ۳۱ حلقت او رِحوب چې د څرن زمکې ورسره وې.
۳۲ د نفتالي د علاقې نه هغوئ ته درې ښارونه مِلاو شول، په
ګلیل کښې قادِس، چې د پناه یو ښار وو او د څرن زمکې
ورسره وې، حمات دور او قرتان چې د څرن زمکې ورسره
وې. ۳۳ د جیرسون قبیلې مختلفو کورَنو ته ټول دیارلس
ښارونه مِلاو شول چې د څرن زمکې ورسره وې. ۳۴ د
لیوی قبیلې د مراری پاتې قبیلې ته د زبولون علاقې نه څلور
ښارونه مِلاو شول، یقنِعام، قرتاه، ۳۵ دِمنه او نحلال چې د
څرن زمکې ورسره وې. ۳۶ د روبین علاقې نه هغوئ ته
څلور ښارونه مِلاو شول، بصر، یهض، ۳۷ قدیمات او
مفعت چې د څرن زمکې ورسره وې. ۳۸ د جاد قبیلې نه
هغوئ ته څلور ښارونه مِلاو شول، په جِلعاد کښې رامات،
چې د پناه یو ښار وو، چې د څرن زمکې ورسره وې،
محنایم، ۳۹ حسبون او یعزیر چې د څرن زمکې ورسره وې.
۴۰ نو د مراری قبیلې ته ټول دولس ښارونه حواله شوی وُو.
۴۱-۴۲ د بنی اِسرائیلو د خپل مُلک نه ټول اتۀ څلویښت
ښارونه لیویانو له ورکړے شوی وُو چې د هغې نه ګېرچاپېره
د څرن زمکې وې.

## د بنی اِسرائیلو مُلک نیول

۴۳ نو مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو له هغه ټول مُلک ورکړو د
کوم یې چې د هغوئ پلار نیکۀ سره د ورکولو لوظ کړے وو.
کله چې بنی اِسرائیلو دا مُلک قبضه کړو، نو هغوئ هلته په
هغه مُلک کښې دیره شول. ۴۴ مالِک خُدائ هغوئ له هم
هغه شان د هر طرف نه امن ورکړے وو، لکه څنګه چې هغۀ
د هغوئ د پلار نیکۀ سره لوظ کړے وو. د هغوئ یو دشمن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم د هغوئ مقابله نۀ شوه کولے ځکه چې مالِک خُدائ
هغوئ له په ټولو دشمنانو باندې فتح ورکړې وه. ۴۵ مالِک
خُدائ چې د بنی اِسرائیلو سره څومره وعدې کړې وې نو په
هغې کښې یوه هم نۀ وه ناکامه شوې او ټولې یې پوره کړې
وې.

## د حضرت یشوَع د څۀ قبیلو رخصتول

۲۲ ۱ بیا یشوَع د روبین، جاد او د نمرخاتۀ طرف
منسی قبیلې خلق راغونډ کړل. ۲ او یشوَع ورته وفرمائیل،
”تاسو هغه هر څۀ کړی دی چې د مالِک خُدائ خِدمت
کوونکی موسیٰ د څۀ کولو حُکم درکړے دے او تاسو زما
ټول حُکمونه منلی دی. ۳ په دې ټولو وختونو کښې تاسو
یو ځلې هم د خپلو بنی اِسرائیلو سره بې‌وفائی نۀ ده کړې.
تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک حُکم ښۀ منلے دے.
۴ نو چې څنګه هغۀ وعده کړې ده، مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک ستاسو خپلو بنی اِسرائیلو له آرام درکړے دے.
نو په هغه مُلک کښې واپس خپلو کورونو ته لاړ شئ، کوم
مُلک چې د اُردن نمرخاتۀ طرف ته دے، هغه مُلک چې د
مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ درکړے دے. ۵ خیال
کوئ چې هغه قانون پوره ومنئ چې موسیٰ د هغې حُکم
درکړے دے یعنې د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک سره
مینه کوئ، د هغۀ حُکمونه منئ، د هغۀ وفادار اوسئ او د زړۀ
د اخلاصه د هغۀ خِدمت کوئ.“ ۶-۸ یشوَع د خپل
برکت سره او د دې خبرو سره هغوئ واپس خپلو کورونو ته
ولېږل، ”تاسو خپلو کورونو ته ډېر مالداره واپس روان یئ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېر څاروی، سپین زر، سرۀ زر، زېړ، اوسپنه او ډېرې جامې
درسره دی. تاسو چې د خپلو دشمنانو نه څۀ اخستی دی نو د
هغې نه د خپلو قبیلو خلقو له حِصه ورکړئ.“ او هغوئ
کورونو ته لاړل. موسیٰ د اُردن نمرخاتۀ طرف ته زمکه د
منسی نیمې قبیلې له ورکړې وه، خو یشوَع د منسی باقی نیمې
قبیلې له د نورو قبیلو سره د اُردن نمرپرېواتۀ طرف ته زمکه
ورکړه. ٩ د روبین، جاد او نمرخاتۀ طرف ته منسی قبیلو
خلق واپس خپلو کورونو ته لاړل. هغوئ پاتې بنی اِسرائیل د
کنعان په مُلک سیلا کښې پرېښودل او خپل مُلک جِلعاد ته
یې سفر شروع کړو، دا مُلک هغوئ د هغه حُکم په مطابق
نیولے وو چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذریعه کړے وو.

## د اُردن سره قربانګاه

١٠ خو په کوم وخت کښې چې هغوئ لا په کنعان کښې وُو
او چې کله هغوئ د اُردن سره نزدې جلیلوت نومې ځائ ته
راغلل، نو د روبین، جاد او د منسی نیمې قبیلې سړی هلته د
دې دپاره ایسار شول چې یوه لویه او د شان و شوکت والا
قربانګاه جوړه کړی. ١١ باقی بنی اِسرائیلو ته ووئیلے
شول چې، ”واورئ، د روبین، جاد او د منسی نیمې قبیلې
کنعان مُلک ته ننوتلو په ځائ کښې، زمونږ په طرف باندې د
اُردن سیند سره یوه قربانګاه جوړه کړې ده.“ ١٢ کله چې
بنی اِسرائیل د دې نه خبر شول، نو د سیلا سره ټول قوم د
دې دپاره راغونډ شو چې د نمرخاتۀ طرف ته قبیلو خِلاف
جنګ وکړی. ١٣ نو بنی اِسرائیلو د اِلیعزر اِمام زوئ
فینحاس د جِلعاد په مُلک کښې د روبین، جاد او د نمرخاتۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف منسی قبیلې خلقو له ولیږلو. ۱۴ بیا لس مشران د
فینحاس سره لاړل، چې هر یو د بنی اِسرائیلې قبیلې مشر وو
او هر یو په قبیلو کښې د کورَنو مشر وو. ۱۵ هغوئ په
جِلعاد کښې د روبین، جاد او د منسی نیمې قبیلې خلقو له
راغلل او ورته یې ووئیل چې، ۱۶ ”د مالِک خُدائ ټول قوم
تپوس کوی چې تاسو د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د خُدائ
پاک خِلاف دا عمل ولې کړے دے؟ چې دا قربانګاه تاسو د
ځان دپاره جوړه کړې ده نو د مالِک خُدائ خِلاف مو بغاوت
کړے دے او تاسو د هغهٔ په لاره نهٔ یئ روان. ۱۷ په فعور
کښې زمونږ هغه ګناه درته یاده ده څهٔ، چې په کوم وخت
کښې مالِک خُدائ په خلقو وبا راوستله؟ مونږ د هغې په وجه
تر اوسه پورې په تکلیف کښې یُو. ولې هغه ګناه کافی نهٔ وه
څهٔ؟ ۱۸ تاسو اوس د هغهٔ په لاره د تلو نه اِنکار کوئ څهٔ؟
کهٔ تاسو نن د مالِک خُدائ خِلاف سرکشی وکړه، نو سبا به
هغه د بنی اِسرائیلو ټول قوم ته په قهر وی. ۱۹ نو بیا، کهٔ
ستاسو مُلک د عبادت دپاره ښهٔ نهٔ وی، نو د مالِک خُدائ
مُلک ته ورننوځئ، چرته چې د هغهٔ مقدسه خیمه ده. زمونږ
په مینځ کښې په څهٔ زمکه باندې دعویٰ وکړئ. خو د مالِک
خُدائ خِلاف سرکشی مهٔ کوئ او نهٔ چې مونږ سرکشه کړئ
چې د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک د قربانګاه نه علاوه
یوه قربانګاه جوړه کړُو. ۲۰ هغه راپه یاد کړئ چې د زارح
زوئ عکن د هغه څیزونو سره خیانت وکړو چې د هغې تباهی
ضروری وه، د دې په وجه د بنی اِسرائیلو ټول قوم ته سزا
مِلاو شوه. د عکن د ګناه په وجه نور کسان هم مړهٔ شوی
وُو.“ ۲۱ د روبین، جاد او د منسی نیمې قبیلو خلقو د
نمرپریوانهٔ طرف ته قبیلو د کورَنو مشرانو ته په جواب کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئیل، ۲۲ ”خُدائ پاک طاقتور دے. هغه مالِک خُدائ
دے. خُدائ پاک طاقتور دے. هغه مالِک خُدائ دے. هغۀ ته
پته ده چې مونږ داسې ولې وکړل او مونږ غواړُو چې تاسو ته
هم پته ولګی. کۀ مونږ سرکشی وکړه او په مالِک خُدائ
باندې مو ایمان ونۀ لرلو، نو مونږ نور ژوندی مۀ پرېږدئ. ۲۳
کۀ مونږ د مالِک خُدائ نافرمانی وکړه او د دې دپاره مو
خپله قربانګاه جوړه کړه چې په دې باندې نذرانې وسوزوو
او یا یې د غلې نذرانې او سلامتئ نذرانې دپاره استعمال کړُو،
نو مالِک خُدائ دې په خپله مونږ له سزا راکړی. ۲۴ مونږ
داسې ځکه وکړل چې په راتلونکی وختونو کښې ستاسو اولاد
زمونږ اولاد ته ونۀ وائی چې ستاسو د مالِک خُدائ د بنی
اِسرائیلو د خُدائ پاک سره هیڅ کار نشته. ۲۵ هغۀ زمونږ او
ستاسو یعنې د روبین او جاد خلقو په مینځ کښې د اُردن د
حد پوله جوړه کړه. ستاسو د مالِک خُدائ سره هیڅ کار
نشته. نو بیا کېدے شی چې ستاسو اولاد زمونږ اولاد د مالِک
خُدائ د عبادت نه منع کړی. ۲۶ نو مونږ قربانګاه د نذرانو
سوزولو او پېش کولو دپاره نۀ ده جوړه کړې، ۲۷ بلکې د
دې دپاره مو جوړه کړه چې دا زمونږ او ستاسو او زمونږ نه
پس د نسلونو دپاره یو یادګار وی، چې مونږ بېشکه د مالِک
خُدائ د مقدسې خیمې په مخکښې د هغۀ عبادت کوُو او هغۀ
ته خپلې نذرانې وسوزوو او قربانئ او د سلامتئ نذرانې پېش
کوُو. نو داسې ستاسو اولاد به دا خبره نۀ کوی چې د مالِک
خُدائ سره زمونږ هیڅ کار نشته. ۲۸ زمونږ خیال دا وو، کۀ
چرې داسې وشول، نو زمونږ اولاد به وائی چې ګورئ، زمونږ
پلار نیکۀ هم هغه شان قربانګاه جوړه کړې ده لکه څنګه چې
د مالِک خُدائ قربانګاه ده، دا د سوزېدونکو نذرانو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانو دپاره نۀ ده بلکې دا زمونږ او ستاسو د خلقو دپاره يو
يادګار دے. ۲۹ مونږ به بېخى د مالِک خُدائ خِلاف
سرکشى نۀ کوُو او نۀ به د هغۀ نه اوړو چې د نذرانو د
سوزېدو او غلې او د قربانو پېش کولو دپاره يوه قربانګاه
جوړه کړُو. کومه قربانګاه چې د مالِک خُدائ زمونږ خُدائ
پاک د حضور خېمې په مخکښې ولاړه ده نو صرف هغه به د
دې دپاره استعمالولے شى.“ ۳۰ فينحاس اِمام او د قوم
هغه لس مشران سرى کوم چې د هغۀ سره وُو، د نمرپرېواتۀ
طرف ته د قبيلو د کوَرنو مشران د روبين، جاد او د منسى
نيمې قبيلې د خبرو نه خبر شول، نو هغوئ خوشحاله شول.
۳۱ د اِلىعزر اِمام زوئ فينحاس هغوئ ته ووئيل، ”اوس
مونږ ته پته ده چې مالِک خُدائ زمونږ مل دے. تاسو د هغۀ
خِلاف سرکشى ونۀ کړه، نو داسې تاسو بنى اِسرائيل د مالِک
خُدائ د سزا نه بچ کړل.“ ۳۲ بيا فينحاس او مشران د
جِلعاد په مُلک کښې د روبين او جاد د خلقو نه روان شول
او واپس په کنعان کښې د بنى اِسرائيلو خلقو له لاړل او
هغوئ يې خبر کړل. ۳۳ بنى اِسرائيل خوشحاله وُو او د
خُدائ پاک ثناء صِفت يې کولو. هغوئ جنګ له د تلو او هغه
خبرې پرېښودې چې هغه مُلک به تباه کړُو چرته چې د
روبين او جاد خلق اوسېږى. ۳۴ د روبين او جاد خلقو
ووئيل، ”دا قربانګاه زمونږ ټولو دپاره يو يادګار دے چې
مالِک خُدائ، خُدائ پاک دے.“ نو هغوئ په دې باندې
”يادګار“ نوم کېښودو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یشوَع آخری تقریر

# ۲۳

۱ ډېره موده وروستو مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو له د
هغوئ ګېرچاپېره دشمنانو نه امن ورکړو. په هغه وخت کښې
یشوَع ډېر بوډا وو، ۲ نو هغهٔ ټول بنی اِسرائیل، مشران،
مالِکان، قاضیان او د خلقو آفسران راوغوښتل او ورته يې
ووئیل، "زهٔ اوس ډېر بوډا شوے یم. ۳ تاسو هغه هر څهٔ
لیدلی دی چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د دې ټولو
قومونو سره ستاسو دپاره کړی دی. مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک ستاسو دپاره جنګ کوی. ۴ ما ستاسو قبیلو ته
د هغه قومونو مُلک حواله کړے دے چې خپل میراث يې شی
کومو قومونو چې شکست نهٔ دے خوړلے او ورسره د هغه
ټولو قومونو چې ما د مخکښې نه فتح کړی دی، چې هغوئ د
نمرخاتهٔ طرف ته د اُردن سیند نه واخله د نمرپرېواتهٔ طرف
ته د مدیترانی سمندر پورې دی. ۵ مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک به هغه پاتې شوی قومونه ستاسو نه په شا کړی
او چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو هغوئ به وشړئ. د هغوئ
مُلک به ستاسو شی، هم هغه شان لکه څنګه چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک وعده کړې ده. ۶ نو پام کوئ
چې هغه هر څهٔ ومنئ او هغه هر څهٔ وکړئ کوم چې د موسیٰ
د شریعت په کِتاب کښې لیکلے شوی دی او د هغې نه یو
طرف ته هم مهٔ اوړئ. ۷ نو بیا به تاسو د هغه خلقو سره
کار نهٔ لرئ کوم چې ستاسو سره پاتې وی، نهٔ به د هغوئ د
معبودانو نومونه په ژبه راولئ، او نهٔ به دا نومونه د قسم دپاره
استعمالوئ، نهٔ به د هغه معبودانو عبادت کوئ او نهٔ به ورته
سجده لګوئ. ۸ د دې په ځائ، د مالِک خُدائ هم هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان وفادار اوسئ، لکه څنګه چې تر اوسه پورې وفادار يئ.
۹ چې تاسو مخ په وړاندې تلئ نو مالِک خُدائ لوئ لوئ او
تکړه قومونه شړلی دی او تر اوسه پورې څوک د دې قابل نهٔ
دی چې ستاسو خِلاف ودرېږی. ۱۰ ستاسو هر يو کس زر
سړو له منډه ورکولے شی، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک ستاسو دپاره جنګ کوی، هم هغه شان لکه څنګه
چې هغهٔ وعده کړې ده. ۱۱ نو بيا کوشش کوئ چې د مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک سره مينه وکړئ. ۱۲ کهٔ تاسو بې‌وفا
شئ او د هغه قومونو سره اِتحاد وکړئ کوم قومونه چې تر
اوسه پورې ستاسو سره پاتې دی او د هغوئ سره ودونه
وکړئ، ۱۳ نو تاسو يقين وکړئ چې کله تاسو مخ په وړاندې
ځئ نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به نور هغه قومونه
ونهٔ شړی. او هغوئ به ستاسو دپاره د دام يا د کندې په شان
خطرناک وی او د کوړې په شان به داسې دردناک وی لکه
چې ستاسو ملا ورباندې ووهلے شی او يا چې ازغی ستاسو
سترګې ړندې کړی. او دا به په هغه وخت ختم شی چې
ستاسو يو کس هم په دې ښائسته مُلک کښې پاتې نهٔ شی هغه
مُلک چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له درکړے
دے. ۱۴ اوس زما د مرګ وخت نزدې دے او تاسو هر يو
کس د زړهٔ د کومې نه خبر يئ چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک چې هره يوه وعده کړې ده نو هغه يې پوره کړې
ده، داسې يوه وعده هم نشته چې پوره شوې نهٔ وی. ۱۵ خو
لکه څنګه چې هغهٔ کومه وعده کړې ده او هره يوه يې پوره
کړې ده، نو داسې کهٔ تاسو د هغهٔ نافرمانی وکړئ نو خُدائ
پاک به هغه افتونه هم راولی. تاسو به تباه کړی او د هغه ښهٔ
مُلک نه به مو ورک کړی کوم ښهٔ مُلک چې مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو خُدائ پاک تاسو له درکړے وو. ۱۶ کۀ تاسو هغه
لوظ مات کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغې
سر ته رسولو حُکم درکړے دے او تاسو د نورو معبودانو
خِدمت او عبادت وکړئ، نو بيا به هغه په خپله غصه کښې
تاسو له سزا درکړی، نو ډېر زر به ستاسو يو کس هم په دې
ښۀ مُلک کښې پاتې نۀ شی چې کوم هغۀ درکړے دے.“

## د حضرت يشوَع په شِکم کښې خلقو ته تقرير کول

۲۴ ۱ يشوَع په شِکم کښې د بنی اِسرائيلو ټولې قبيلې
راغونډې کړې. هغۀ مالِکان، مشران، قاضيان او د بنی
اِسرائيلو آفسران راوغوښتل او هغوئ د خُدائ پاک حضور
ته راغلل. ۲ يشوَع خلقو ته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک داسې فرمائی چې، ډېر وخت مخکښې،
ستاسو پلار نيکۀ، سره د اِبراهيم او نحور د پلار تارح، د فرات
سيند نه اخوا اوسېدل او هغوئ د نورو معبودانو عبادت
کولو. ۳ بيا ما ستاسو پلار نيکۀ اِبراهيم د فرات سيند نه
اخوا مُلک نه روان کړو او د کنعان په ټول مُلک کښې مې
وګرځولو. ما هغۀ له ډېر اولاد ورکړو. ما هغۀ له اِسحاق
ورکړو، ۴ او اِسحاق له مې يعقوب او عِيسو ورکړل. ما
عِيسو له د ادوم د غرونو مُلک ورکړو چې خپل ميراث يې
شی، خو ستاسو پلار نيکۀ يعقوب او د هغۀ بچی لاندې مِصر
ته لاړل. ۵ ما بيا موسیٰ او هارون ولېږل او په مِصر باندې
مې لوئ افتونه راوستل او د هغې نه پس ما تاسو راوويستلئ.
۶ ما ستاسو پلار نيکۀ د مِصر نه راوويستل او مِصريان د
جنګی ګاډو او په آسونو سوارو کسانو سره په هغوئ پسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو. خو کله چې ستاسو پلار نيکهٔ بحرِقُلزم ته ورسېدل ۷
نو هغوئ ما ته د مدد دپاره فرياد وکړو او ما د هغوئ او د
مِصريانو په مينځ کښې تيارهٔ راوستله. ما مِصريان په سمندر
لاهُو کړل او هغوئ مې ورډُوب کړل. تاسو په خپلو سترګو
وليدل چې ما په مِصر څهٔ کړې دى. تاسو تر ډېره وخته
پورې په هغه بيابان کښې اوسېدئ. ۸ بيا ما تاسو د
اموريانو مُلک ته راوستلئ، کوم چې د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته
اوسېدل. هغوئ ستاسو سره جنګ وکړو، خو ما تاسو له په
هغوئ باندې فتح درکړه. تاسو د هغوئ مُلک قبضه کړو او
چې تاسو مخ په وړاندې تلئ نو هغوئ مو تباه کول. ۹ بيا د
موآب بادشاه صفور زوئ بلق ستاسو خِلاف جنګ وکړو.
هغهٔ د بعور زوئ بلعام راوغوښتو او ورته يې ووئيل چې په
تاسو لعنت ووائى. ۱۰ خو ما بلعام ته غوږ نهٔ نيولو، نو ځکه
هغهٔ تاسو له برکت درکړو، او داسې ما تاسو د بلق نه بچ
کړئ. ۱۱ تاسو د اُردن نه پورې وتئ او يريحو ته راغلئ. د
يريحو سړو ستاسو خِلاف جنګ وکړو، هم هغه شان چې
څنګه اموريانو، فرزيانو، کنعانيانو، حِتيانو، جرجاسيانو،
حِويانو او يبوسيانو کړى وُو. خو ما تاسو له په هغه ټولو
باندې فتح درکړه. ۱۲ چې تاسو مخ په وړاندې تلئ نو ما
هغوئ د دې دپاره په وارخطايۍ آخته کړل چې هغه دوه
امورى بادشاهان وشړم، دا کار ستاسو د تُورو او ليندو په
ذريعه نهٔ وو شوے. ۱۳ ما تاسو له يو داسې زمکه درکړه
چې تاسو هيڅکله کَرلې نهٔ وه او داسې ښارونه مې درکړل
چې تاسو جوړ کړى نهٔ وُو. اوس تاسو هلته اوسېږئ او د هغه
باغونو نه انګور خورئ چې تاسو کَرلى نهٔ دى او د هغه ونو نه
د زيتُونو مېوه خورئ چې تاسو کَرلى نهٔ دى.“ ۱۴ نو يشوَع
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائیل چې، ”د مالِک خُدائ نه یرېږئ او په اخلاص او
ایماندارۍ سره د هغهٔ خِدمت وکړئ. او د هغه معبودانو نه
ځان خلاص کړئ چې ستاسو پلار نیکهٔ په مسوپتامیه او
مِصر کښې د هغوئ عبادت کولو او صِرف د مالِک خُدائ
خِدمت کوئ. ۱۵ کهٔ ستاسو زړهٔ نهٔ کیږی چې د هغهٔ خِدمت
وکړئ، نو نن دا فیصله وکړئ چې د چا خِدمت به کوئ، د
هغه معبودانو چې ستاسو پلار نیکهٔ په مسوپتامیه کښې د
هغوئ عبادت کولو یا د اموریانو د معبودانو، چې د چا په
مُلک کښې تاسو اوس اوسیږئ. خو پاتې شوه زما او زما د
خاندان خبره، نو مونږ به د مالِک خُدائ خِدمت کوُو.“ ۱۶
خلقو ورته په جواب کښې ووئیل، ”مونږ به هیڅکله مالِک
خُدائ نهٔ پرېږدو چې د نورو معبودانو عبادت وکړُو. ۱۷
مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک زمونږ پلار نیکهٔ او مونږ په
مِصر کښې د غلامۍ نه راوویستلو او چې هغهٔ کومې معجزې
کولې نو هغه مو ولیدلې. چې مونږ د هر یو قوم نه هم تېرېدو
او هر ځائ له هم تلو نو هغهٔ مونږ په حِفاظت کښې ساتلو.
۱۸ کله چې مونږ دې مُلک ته مخ په وړاندې تلو، نو مالِک
خُدائ هغه ټول اموریان وشړل کوم چې دلته اوسېدل. نو
ځکه مونږ به هم د مالِک خُدائ خِدمت کوُو، هغه زمونږ
خُدائ پاک دے.“ ۱۹ یشوَع خلقو ته وفرمائیل، ”خو کېدے
شی چې تاسو د دې قابل نهٔ شئ چې د مالِک خُدائ خِدمت
وکړئ. هغه یو مقدس او غیرتی خُدائ پاک دے او هغه به
ستاسو ګناهونه نهٔ معاف کوی، ۲۰ او کهٔ تاسو هغه پرېږدئ
او د پردو معبودانو خِدمت وکړئ، نو هغه به ستاسو خِلاف
شی او تاسو له به سزا درکړی. هغه به تاسو تباه کړی، اګر
چې هغه ستاسو سره مخکښې ښهٔ هم وو.“ ۲۱ نو خلقو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یشوَع ته ووئیل، ”نه، مونږ به د مالِک خُدائ خِدمت کوُو.“
٢٢ یشوَع هغوئ ته وفرمائیل، ”تاسو په خپله د دې حقیقت
ګواهان یئ چې تاسو د مالِک خُدائ خِدمت خوښ کړے
دے.“ هغوئ ووئیل، ”آو، مونږ د دې خبرې ګواهان یُو.“ ٢٣
نو یشوَع ورته وفرمائیل، ”تاسو سره چې کوم پردی بُتان دی
نو د هغې نه ځان خلاص کړئ، نو داسې به تاسو د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک سره وفادار اوسئ.“ ٢٤
بیا خلقو یشوَع ته ووئیل، ”مونږ به د مالِک خُدائ د خپل
خُدائ پاک خِدمت کوُو. مونږ به د هغهٔ حُکمونه منو.“ ٢٥
نو په هغه ورځ یشوَع د خلقو سره یو لوظ وکړو او هلته په
شِکم کښې هغهٔ ورته قانون او اصُول وښودل. ٢٦ یشوَع دا
حُکمونه د خُدائ پاک د شریعت په کِتاب کښې ولیکل. بیا
هغهٔ یو لوئ کاڼے واخستلو او د مالِک خُدائ په مقدس ځائ
کښې یې د څېړۍ د ونې لاندې ودرولو. ٢٧ هغهٔ ټولو خلقو ته
وفرمائیل، ”دا کاڼے به زمونږ ګواه وی. دې کاڼی هغه ټولې
خبرې اورېدلې دی کومې چې مالِک خُدائ مونږ سره کړې
دی. نو دا به ستاسو خِلاف یو ګواه وی، چې د خُدائ پاک
خِلاف د سرکشۍ نه مو وساتی.“ ٢٨ بیا یشوَع خلق ولېږل
او هغوئ ټول د هغه مُلک خپلې برخې ته راواپس شول.

## د حضرت یشوَع او اِلیعزر وفات کېدل

٢٩ د هغې نه پس، د مالِک خُدائ خِدمتګار د نون زوئ
یشوَع د یو سل او لسو کالو په عُمر کښې وفات شو. ٣٠
هغوئ هغه د اِفرائیم د غرونو په مُلک کښې د تمنت‌سِره سره
په خپله زمکه کښې ښخ کړو چې دا مُلک د جعس غر شمالی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف ته دے. ۳۱ ترڅو پورې چې يشوَع ژوندے وو، نو بنى
اِسرائيلو د مالِک خُدائ خِدمت کولو او د هغهٔ د مرګ نه پس
هغوئ تر هغې پورې هم دغه شان کول چې هغه مشران
ژوندى وُو چې کومو مشرانو په خپله هغه هر څهٔ وليدل چې
مالِک خُدائ څهٔ د بنى اِسرائيلو دپاره کړى وُو. ۳۲ بنى
اِسرائيلو چې د مِصر نه د يوسف کوم هډُوکى راوړى وُو نو
هغوئ هغه د شِکم په هغه زمکه کښې ښخ کړل کومه چې
يعقوب د شِکم د پلار د همور د زامنو نه د سپينو زرو په سلو
سيکو باندې اخستې وه. دا هغه زمکه وه چې د يوسف د اولاد
په ذريعه ميراث شوې وه. ۳۳ د هارون زوئ اِلىعزر مړ شو
او په جبعه کښې ښخ شو، دا هغه ښار وو چې د اِفرائيم د
غرونو په مُلک کښې وو او چې د هغهٔ زوئ فينحاس له
ورکړے شوے وو.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.